# سوسیالیزم پنځوس پوښتنې او ځوابونه

The Struggle, 06 November 2012 Print

**Pashto**

50 questions and answers about Socialism in Pashto.

## پوښتنه - کمیونزم څه ته وايئ؟

پوښتنه - پرولتاریه یا کارګره طبقه څه ته وایئ ؟

پوښتنه - ایا کارګر یا پرولتاریه له ازل څخه موجوده وه؟

پوښتنه - پرولتاریه څنګه راپیدا شوه؟

پوښتنه - هغه کوم عوامل دي چې له امله یې غریبه طبقه (پرولتاریه ) خپل زیار د پانګوالې طبقې د ودې په خاطر پلوري یا مجبوره شوي چې خرڅ یې کړي؟

پوښتنه - له صنعتي انقلاب وراندې کارګرې طبقې څه حالت درلوده؟

پوښتنه - پرولتاریه د غلام په پرتله څه توپیر لري؟

پوښتنه - دپرولتاریه او بزګر ترمنځ څه توپیر دی؟

پوښتنه - هغه کوم لاملونه دي چې پرولتاریه له دستکارځخه بیلوي؟

پوښتنه - پرولتاریه پر کُومو اساساتو له کورني دستکار اویا د کورني صنعتي کارګر څخه توپیر لری؟

پوښتنه - هغه کوم لاملونه دي چې د صنعتي [illegible] وويشل!!؟

پوښتنه -دصنعتي انقلاب نور کوم اثرات راځرګند شول؟

پوښتنه - ددې هره ورځ تجاراتي بُحرانونو دعروج او زوال څخه څه تر لاسه کیږي؟

پوښتنه - دغه نظام به څه ډول وي؟

پوښتنه- آیا ددې څخه وراندې هم دشخصي شتمنیو خاتمه ممکنه وه؟

پوښتنه- آیاپه شلیبز ډول دشخصي شتمنیو له منځه تلل ممکن دي؟

پوښتنه - دانقلاب طریقه او لاره به څه وي؟

پوښتنه - آیا داممکنه ده چې انقلاب په یوهیواد کې راشي اوبیا به بریا ترلاسه کړي؟

پوښتنه - آیا دشخصي شتمنیو په له منځه ورلو سره ګټي ترلاسه کیدلای شي او کنه؟

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه -  دکمیونزم په کورنۍ نظام باندې څه تاثیرات پریوځي؟

پوښتنه - د ملتونو، قومونو او ولسونو په اړه به د کمیونزم څه چلند وي؟

پوښتنه - مارکسیزم څه ته وایې ؟

پوښتنه - مارکسیزم، لینینزم او ټراټیسکېزم څه ته وایې ؟

پوښتنه - آیا په یوه وخت کې د ولسواکۍ او سوسیالیزم یوځاي شتون ممکن دی او کنه؟

پوښتنه- په سوسیالیزم کې به تولید څرنګه ټولنیز کیږي او ددولت وېش به څه ډول وي؟

پوښتنه - پردیوالی څه ته وایې ؟

پوښتنه- دیوې زمانې غالب فکرونه څه ته وایې ؟

پوښتنه - په تاریخ کې د فرد رول څنګه ارزیابي کیدای شي؟

پوښتنه - دټولنې مادي بنسټونه څه دي؟

پوښتنه - دټولنیزې تکامل قوانین څه دي؟

پوښتنه -دپانګونې د تکامل تاریخي رجحان څه دی؟

پوښتنه - ګلوبلویزایشن څه ته وایې ؟

پوښتنه – په لوړه او غیرمساویانه وېش کې د ورځ په تېریدو ولې زیاتوالی رامنځته کیږي؟

پوښتنه – ملټي نیشنل کمپني  ولې دومره څواکمنې دي؟

پوښتنه - ایا دا مُمکنه ده چې پرته د پانګوال نظام خلاف جنګیدلودنړیوال مالي فنډ او نړیوال بانک خلاف وجنګیږو؟

پوښتنه - په سټایل، پراګ، لندن، پیرس، سپین، یونان او وینس کې د لاریونونو عوامل څه وو؟

پوښتنه - آیا دیوې جلا ټولنې جوړښت مُمکن دی؟

پوښتنه - دخلکو د دغو خبرو څخه څه مانا اخیستی شوو، چې وایې  هغه سوسیالسټ دی؟

پوښتنه -آیا داممکنه ده چې دپانګوال نظام پر ضد جنګ پرته دیوي ادارې یا شخص خلاف جنګ کیدلای شي؟

پوښتنه - انقلاب څه ته وایې ؟

پوښتنه - انقلابي ګوند څه ته وایي ؟

پوښتنه - د انقلابی ګوند اړتیاولې پیښیږي؟

پوښتنه –  **کمونیسټ مینی فیسټو (مرام نامه) د سیاسي مبارزې کولو لپاره کوم بنسټیزه مارکسستې أصول وړاندې کړې وو؟**

پوښتنه-  د سوسیالیزم د حتمي کیدولو په اړه د مارکس څه نظر  وه؟

پوښتنه-  د تاریخ مادي تصور څه دی؟(د لینن وضاحت)

پوښتنه -  د مارکسیزم د جدلیاتی فلسفې تشریح؟

پوښتنه-  طبقاتي مبارزه څه ته وایی؟

پوښتنه -  د مطالعې په اړه د ټراټسکی څه نظر وه؟(۲۹میی ۱۹۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه –  پرله پسی دوام داره انقلاب څه ته وایی؟

پوښتنه -  ایا د سوویت یونین (شوروی اتحاد) له ړنګیدو څخه د سوسیالیزم ناکامي ځرګندیږی؟

## پوښتنه - کمیونزم څه ته وایئ؟

## ځواب-

 هغه نظریه چې د مارکسیزم پر بنسټ ولاړه وي دکارګرې طبقي دغیر استحصالي او غیر طبقاتي ټولنې لپاره زیار وباسي کمیونزم دي.  په دغه کې شخصي پانګه چې  دبل وګړي  د استحصال پر خاطر کارولای کېږي شتون نه لري. تولید او انساني زیار دکارګرې طبقې شریکه پانګه وي،  په دغه غونډال کې دهرچا څخه دهغه د استعداد مطابق کار اخیستلی کېږي او ورکولای کېږي. ترڅو  د ذهنی او طبیعی(jismani) زیار ترمنځ توپیر له منځه لاړشي.  دټولنې هر وګړي ته خوراک، ډوډی، څښاک، کالي، کور، پوهه او د روغتیا اسانتیاوې پرته له کوم تعصبه رسول کېږي. په دغه نظام کې له بي کاری، لوږې، مریضتیا،جهل او نوري نیمګړتیاوو، چې په پانګوال نظام کې شتون لري خلک ترې په امن کې وي.  څپلواکه، پرمختللې او ریښتنې ټولنه په ریښتیا هم په دغه نظام کې وجود لري.

پوښتنه - پرولتاریه یا کارګره طبقه څه ته وایئ ؟
**ځواب-**

پرولتاریه  یا  کارګره طبقه هغه طبقه ده چې دا د تولید په (manbo)واک لرولو څخه محرومه او د خپلې بقا لپاره او دژوند دارتیاوو دپوره کولو لپاره خپل زیار په بازار کې پلوري.  په پانګوال نظام کې هرڅه پخپله تولیدوي خو واک او ګټه نلري. دکارګري طبقي ښادي او غم، ژوند او مرګ او ان  تردي چې د نوموړې بقاء انحصار او طلب یې  دښه او بد کاروبار ددغه پانګوال ترمنځ اقتصادي ټیټه جګه یا سیالی سره تړلې شوې ده.  دنولسمې پیړۍ په اصطلاح کارګره طبقه هغه طبقه ده چې په لویو او کوچنیو منډیو یا بازارونو کې د خپل ژوند ساتلو لپاره  زیار دپانګوال په لاس پلوري.

پوښتنه - ایا   کارګر  یا  پرولتاریه له ازل څخه موجوده وه؟

## ځواب-

نه داسې نده غریب اوکارګر تل زیار ایستونکي پاتې شوي دي. او زیار ایستونکي تل غریب پاتې شوي دي. دتولیدي عواملو تر څنګ په تولیداتو او آلاتو باندي د یو څه خلکو د واک له امله غریبه او کارګره طبقه په وجود کې راغلې ده.  پرولتاریه  په  صنعتي بهیر کښی را  پیداشوي ده، خو د دي عیني اوضاع داسي نه وه ، ځکه چې آزاد بازار او بیا په دغه کي دپانګوالو د سیالۍ استحکام تل موجود نه وه.

پوښتنه -پرولتاریه څنګه راپیدا شوه؟

## ځواب-

پرولتاریه  د ۱۸ پیړې په نیمایې  کې رامنځته شوه، کله چې په انګلستان اودنړۍ په نورو هیوادونو کې صنعتي انقلاب رامینځته شو.  دبخار انجن جوړوني، سنینګ ماشین (پاور لوم) اونور داسي تخنیکي ماشینونه  ددي باعث شول چې انقلاب  رامنځته  کړي. دغه ماشینونه ډیر قیمتي وه چې فقط لویو پانګوالواخیستلای  او  جوړولای شول.  ددغو ماشینونو دزړو پیداوري او تولیداتي توکو ځاي ونیو.  هدې او دژرندو په پرتله سیلنګ ماشین او پاور لوم ډیر تولید او ژر کار کاوه همدا علت وه  چې پخوانی نظام له منځه ولاړ او ځای یې دغو ماشینونو ونیوه.

ددغه ماشینونو په کار کولو سره تولید او پرمختګ دواړه ډېر شول او کارګره طبقه په وسایلو باندي غالبه شوه. بل لوري ته د کارګرې طبقې ژوند او نور عادي وسایل له منځه ولاړل.  ددې نه وروسته پانګوالو ټول صنعتي او تولیدي وسایل په لاس کې واخیستل. کارګره طبقه دهر ډول تولیدي وسایلو څخه محرومه شوه.  لکه د کالیو دلاس ماشین له منځه ولاړ او پر ځای یې  د کالیو جوړولو فابریکه (ټیکسټایل انډسټري) راغله اوپدې ډول صنعتي نظام پیل شو. دکالیو جوړولو د فابریکې په رامنځته کولو سره  صنعتي نظام د ژوند په نورو برخو کې هم ښکاره بدلون رامنځته کړ، چې وروسته بیا د صنعتي نظام یوه برخه وګرځیده. په دغه کې د کتابونو مطبوعاتي چاپ، پوسټرې او داوسپونو فابریکې شاملې دي او همدرنګه د زیار ټولنیز وېش رامینځته شو. **لومړی هغه کارګر چې یو بسته جنس یا شی به یې جوړول اوس د هغې شي به یې یوه برخه جوړوله او د کار ګر انفرادي زیار باسل ډیر ساده وه او تش میکانیکې حرکاتونو پورې پاتې شول.** دغه ماشین ډیر په اعلی توګه کار ترسره کاوه. د زیار په تجزیه کیدلو سره دشیانو جوړول او رسول ډیرپه چټکې سره پرمختګ وکړ . چې دکم (قیمت) مفقط له وجي ډیر ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تامیدل او د لګښت له امله یې بیه، ټیټه شوه. دغه شیانو دهغه شیانو ځای ونیوه چې کارګرې طبقې به په ځانګړې توګه په لاس سره جوړول. داسې تولیدي شیانو کې د مسلکي او تخنیکي پوهې ښوونه به په ډیر اسانۍ سره تکراریدلای شوه. همدا علت وه چې په تولید کې زیاتوالی راغی او تر څنګ یې کېفیت هم لوړ شو.

نوموړی نظام د صنعتي نظام په تسلط کې راغی او دسیلنګ او ویونګ ماشینونوکارونه د هاب د ماشینونو لاندي راغلل. بل لورې ته دغه ټولې نوې فابریکې دلویو پانګوالو لاسونو ته ولویدې، له دې سره د کارګرو خپلواکې هم د دوی ولکې ته ولویده. هغه کارګر چې د هغوی څخه به کار اخیستل کېده ټول ماشیني شول او کوچني کوچني پانګوال په سترو او لویو پانګوالوباندې بدل شول. دوی لوې لوې فابریکې او صنعتونه جوړ کړل او ګټې ته یې مخه وکړه. چې بیا په نوي نظام کې د کارګري طبقي زیار له سره تجزیه شو.

ددې عمل په ترڅ کې په ټولو پرمختللي هیوادونو کې کارګرې طبقې دخپل زیار خرڅولو په موخه بازارونو ته مخه وکړه، اولاسي توکو صنعت وده وکړه او نوی بازاري او صنعتي شکل یې خپل کړ. په پایله کې کوچني پانګوال، کارګره او منځنۍ طبقه تر پښو لاندې شوه. د زیار ایستونکو پخواني شکل بدلون ومونده او په پایله کې یې ټولنه په دوه لویو طبقو وه وېشل شوه. دوه لویې او ستري طبقي منځته راغلي چې په تدریجي ډول دغو سترو طبقو له ځان سره نوې طبقې وټوکولې یا وزېږولې.

۱- پانګواله طبقه : دغه طبقه د پرمختللو هیوادونو په تولیدي ځواکونو غالبه شوه ځکه دوي د اومو موادو او ماشینونوڅیښتنان شول،ځکه چې دغه وسایل د تولید لپاره اړین ګڼل کیدل دغه طبقه د پانګوالې طبقې په نوم مشهوره شوه.

۲- پرولتاریه (زیارایستونکې یا کارګره طبقه): دغه طبقه هیڅ نلري پرته له هُنره، دوي خپل زیار او هُنر دنورو طبقو لپاره پلوري او پېرې تر څو وکولاي شي خپل ژوند پرمخ بوځي، دغه طبقه پرولتاریه ونومیدله.

پوښتنه - هغه کوم عوامل دي چې له امله یې غریبه طبقه (پرولتاریه ) خپل زیار د پانګوالې طبقې د ودې په خاطر پلوري یا مجبوره شوي چې خرڅ یې کړي؟

**ځواب-**
په پانګوال نظام کې د کوښښ یا زیار حیثیت د جنس مانا ورکوي. دغه زیار یا جنس هغه وخت ډیر ارزښتناک یا ښه جنس ګڼل کیږي چې وکولای شي نور تولیدي توکي رامنځته کړي. په ډیره لوړه کچه په صنعتي یا آزادانه سیالۍ کې بشرې زیار یا جنس د یو شي تر سیورې لاندې وي. د هر جنس د بیې ټاکنه په تولید باندې دراتلونکي مفقط او د ژوند تیرولو په اساسي شیانو باندي مشتمل وي ځکه چې پانګوال نه غواړي کارګره طبقه بیکاره پاتې شي او یا لمنځه ولاړه شي او په بدل کې دومره ورکولای کیږي چې یوازې پرې ژوند وکړي. پدې نظام کې د کارګرې طبقه ژوندي ساتل ددې لپاره اړین بلل کیږي، چې پانګوال غواړي له کاره یې ګټه پورته کړي. همداسې کاروبار یا بازار کله ښه وي او کله هم بد وي، نو پانګوال هم کارګرته کله کم معاش ورکوي او کله زیات او په همدې توګه کارګر هم نه زیات څه اخلي او نه کم. څرنګه چې دیوې فابریکې څښتن دخپل تولید په پرتله نه کم اخلي او نه زیات، بیخې همداسې زیارکښ هم د خپل معاش څخه نه زیات اخلی او نه کم.

لوي صنعتونه چې څومره ډیر توکي تولیدولاي شي هغومره به د معاش د راکړې ورکړې قانون جدي کیږي. پانګوال سره خو لوي وسایل او ډیر تولید شتون لري خو د کارګري طبقي سره دخپل ځان او کورنۍ لپاره، پرته له خپل هُنر نه چې پلوري یې، بل هیڅ نلري.

پوښتنه - له صنعتي انقلاب وړاندې کارګرې طبقې څه حالت درلوده؟

**ځواب-** دټولنیزې ودې تر څنګ به کارګرې طبقې هم بدلون موندہ او دوي به له خپلو مالکانو او حکمرانې طبقې سره ډول ډول اړیکې درلودې. په لرغوني زمانه کې به کارګره طبقه د خپلو څښتنانو غلامان وو. لکه څرنګه چې اوس هم له پوهې علم څخه وروسته پاتې هیوادونو کې دا حالت روان او شتون لري. په منځني دور کې د کارګرې طبقې حالت د بزګرانو په شکل وو. چې د څښتنانو ، اشرافیه او ځمکوالو په تسلط کې به یې ژوند کاوه چې دا حالت نن هم په درېیمه نړۍ کې تر سترګو کیږي.

دصنعتي انقلاب تر بشپړیدو پورې دوي کرایي مزدوران وو چې په کلي بانډو کې به یې له منځني پانګوالې طبقې سره کار کاوه. وروسته بیا ټیکنالوژۍ وده وکړه او کارګره طبقه د صنعت له لارې معصره او کارګره طبقه د لویو پانګوالو په لاسونو کې ښکیل شوه چې دې کارګرې طبقې د صنعتي نړۍ پرولتاریه حالت خپل کړ.

پوښتنه - پرولتاریه د غلام په پرتله څه توپیر لري؟

**ځواب-**
غلام یو ځلې خپل ځان پلوري خو پرولتاریه خپل ځان د ورځو یا ساعتونو په حساب خرڅوي. غلام دخپل آقا شتمني وي چې له پیل نه ورسره ژوند تیروي، که هر څومره یې ژوند خراب هم تیریږي، بیا یې هم ژوندي پاتې کیدل اړین وي ځکه چې په دې کې یې د آقا ګټه ده. پرولتاریه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل ژوند تحفظ او نه هم د ژوندي پاتې کیدلو باور لري. دکار په شمول دخوراک، ځښاک، زده کړې او روغتیایي اسانتیاوې نلري. پانگوال چې هر کله وغواړي شړلای یې شي او بس.

نو بیا نوموړې د لوړې ملگرې پاتې شي. د ژوندي پاتې کیدلو باورفقط په احتمالي توگه کارگري طبقي ته ورکول کیږي. غلام د سیالۍ څخه دباندي وي خو پرولتاریه هر وخت د سیالۍاو لوبي په میدان کې د ذلت ښکار وي. د غلام حیثیت په ټولنه کې د منلي غړي په توگه وي او د پرولتاریه په نسبت غلام د ژوند ډاډ لري.

ځکه چې د ژوند اړتیاوې یې د آقا په لاس کې وي. خو پرولتاریه د ټولنې دیو اړین غړي تر څنگ د ژوند کولو داړینو اسانتیاوو څخه بې برخې وي. غلام کولای شي چې خپل ځان آزاد کړي په هغه صورت کې چې خپلې شخصي شتمني په لرلو سره یې غلامي له منځه ولاړه شي. خو داسي غلام بیا په پرولتاریه باندي بدل شي. پرولتاریه په هغه صورت کې خپل ځان ازادولای شي چې کله په ټولنیز ډول پاڅون وکړي او په بشپړه توگه د پانگوالو تولیدي شتمني او واک له منځه یوسي.

پوښتنه - دپرولتاریه او بزگر ترمنځ څه توپیر دی؟

**ځواب-**

د ځمکنیوني په نظام کې کارکوونکي ته بزگر ویل کیږي، چې د ځمکې یوه ټوټه د تولیدي موخو لپاره په کار اچوي او په بدل کې یې دتولیداتو یوه برخه دځمکې څیښتن او واکمن ته ورکوي. په کومو وسایلوچې پرولتاریه کار کوي د هغې خاوند خو نه وي خویوازې په بدل کې یې معاش اخلي. بزگر خپل مالک ته یو څه ورکوي،خو پرولتاریه یې د خپل زیار په بدل کې له څښتن څخه اخلي. بزگر په خپل ژوندي پاتې کیدلو ډاډمن وي خو دپرولتاریه بقاء بې باوره ده. له کارگر سره بدیل هیڅ شی نه وي، خو بزگر یې لري. بزگر دسیالۍ څخه دباندې وي. خو کارگر ورځ تر بلې د سیالۍ برخه گرځي.

یو بزگر په هغه وخت کې ځان آزادولاي شي چې کله هغه له نوموړې ښار یا کلي څخه وه تښتي او په صنعتي نظام کې ځان پرځای کړي او دهُنرمند یا کارگر په توگه ځان مطرح کړي. خو دا هم کولاي شي چې خپل څیښتن یا مالک ته نقدې پیسې یا تولید ورکړي او خپل ځان پري آزاد کړي. په بل صورت کې بزگرکولاي شي خپل خاوند ووهي او واک تر لاسه کړي او یو څه لږه اندازه دسیالۍ برخه وگرځي. خو پرولتاریه داسي نشي کولاي نوموړې باید د خپل خلاصون لپاره د سیالۍ لوبه،شخصي شتمني او طبقاتي وېش له منځه یوسي.

پوښتنه - هغه کوم لاملونه دي چې پرولتاریه له دستکارڅخه بیلوي؟

**ځواب-**

هُنرمند یادستکار چې تر ۱۸ م پیړۍ پورې یې د ځمکې پر سر وجود درلود نن هم د نړۍ په مختلفو برخو کې شته دي. دستکار(لاسې کارگر) په جزوي او یا عارضي توگه یو پرولتاریه وي خو موخه یې پیسي گټل وي، چې وروسته بیا د پرولتاریه داستحصال وړ گرځي او خپله پانگونه کې زیاتوالی راوړي. پداسي کارونو کې مونږ اکثر نوموړې بریالي لیدلي دي.

تر کومه چې کورنۍ صنعت یاانفرادي تولید حضور لري نشي کولاي چې د سیالۍ کولو لوبه یا معصر صنعت ځاي ونیسي. نو پداسي چاپیریال کې دستکار وجود لري. خو څرنگه چې د دستکارۍ پر ځاي صنعتي نظام رامنځته شو، نو هلته رقابت رامنځته شو، چې دستکارانو د منځنۍ طبقي او یا د پانگوال شکل خپل کړ. او یابل طرف ته یې درقابت په ډگر کې ځان ورگډ او ځان د پرولتاریه سره یوځاي کړ. اوس هغه کولاي شي چې په منظمه توگه ځان د پرولتاریه برخه وگڼي او د پانگوال نظام د ظُلم پر وړاندي مبارزه وکړي او ځان تري وژغوري. چې دغه په وروستي پړاو کې په شعوري توگه د روان کمونیستي خوځښت یا کارگر خوځښت سره په یو ځاي کیدو امکان لري.

پوښتنه - پرولتاریه پر کُومو اساساتو له کورني دستکار اویا د کورني صنعتي کارگر څخه توپیر لري؟

**ځواب-**

د ۱٦ میلادي پیړي څخه تر ۱۸ میلادي پیړي پورې کورنۍ دستکار دتولیداتي آلاتو څیښتن شوی دی. دې د ژرندې، کرنې او نورو تولیدي آلاتو او دزمکي څیښتن وو. داضافي وخت په درلودلو سره یې کرنه کوله، خو ددې په پرتله پرولتاریه د هغې او زیار پرته بل هیڅ نه وي.
کورنۍ دستکار تل له خپل خان یا سردار سره تړلي وي. هغه د خپل سردار یا مالک سره تولیدي خپلوي لري. خو ددې برعکس پرولتاریه په لویو صنعتي ښارونو کې ژوند کوي نوموړی د خپل سردار یا مالک سره د نقدو پیسو په صورت کې کار کوي. کورنۍ دستکار په پراخ صنعتي بازار کې خپل ځان ورگډ او د پرولتاریه ملگری کړ.

پوښتنه - هغه کوم لاملونه دي چې له صنعتي انقلاب وروسته یې ټولنه د پرولتاریه او پانگوالې طبقو په څیر په دوه برخو وه وېشله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب-
په سر کې چې کله ماشینونه په صنعت کې دتولیدي ځواکونو ځاي ونیو نو دجنس قیمت راښکته شو او همدا علت وو چې هغه خلک چې دلاس په واسطه به یې کار کولو ورک او تري تم شول. په همدې ډول هغه هیوادونه چې د بربریت ښکار او دتاریخي تکامل سره نابلد وو، ددې انحصار پر عادي جوړونې (منیفکچرنگ) باندي وو. دوي دخپل یوازیتوب څخه وباسل شول او دوي هغه انگریزي موادو ته په خپلو بازارونو کې ځاي ورکړ چې قیمت یې ټیټ وو. څکه دوي خپل هغه بازار چې لاسي توکي به پکې خرڅیدل پخپله له منځه یوړ. پداسي هیوادونو کې چې په زرگونو کلونو کې په دوی کې د پرمختګ څرک نه ښکارا کیدل، دیو انقلاب او بدلون سره مخامخ شول. په بریتانیا کې یو عادي ماشین د میلونونو وگړو پر لاسي کاروبار خپټه واچوله او د دوي بازارونه یې له منځه یوړل.

دصنعت په ودې سره دنړۍ ټول وگړي دیوبل سره په اړیکه کې شول او پرلپسې کوچني او لوی بازارونه په نړیوالو بازارونو باندي بدل شول. دصنعتي انقلاب له برکته په نړیوال فرهنگ کې لوي پرمختګ راغی او دبافرهنگه او پرمختللو هیوادونو څخه ډیر څه د وروسته پاتې هیوادونو په برخه شول. ددي څخه داسي بریښي چې په پرمخ تللي هیوادونو کې لږ بدلون هم په وروسته پاتې هیوادونو باندي خپل اغیز ښیندي.

همدا لامل دی که نن د بریتانیا یا فرانسي کارگره طبقه پاڅون وکړي نو اغیزي به یې ددویمي او درېیمې نړۍ په وگړو کې هم ولیدل شي. ډیر ژر به پدې هیوادونو کې هم پاڅونونه وشي چې په پایله کې به یې کارگره طبقه بیرته خپلې موخې او آزادی ته ورسیږي. په دویم پړاو کې چې د منیفکچرنگ پر ځاي صنعتي نظام راغی نو صنعتي انقلاب بورژوزي طبقي ته زیږون ورکړ، چې دولت یاني خپله شتمني او قوت یې ډیر زیات کړ.

تردي چې دغه طبقه یې دهیوادونو پر لوړو طبقواو مقاماتو وگمارله. په پایله کې ویلي شو چې کله پانگوالي طبقي سیاسي قدرت ترلاسه کړ نو اشرافیه، ځمکواله طبقه یې د شتمنیو څخه بې برخې او ټولی اداري ، شتمني او قوت یې ورته د خاورو سره خاورې کړ. د دوي څخه یې ځمکې او نور امتیازات ترلاسه کړه . دکورنۍ دستکاري صنعت یې له منځه یوړ. ددي پرځاي یې په لوړه کچه صنعتي وده رامنځته کړه او دسیالۍ ډېره یې کیښوده.

دا داسي نظام وو چې د ټولنې هر وگړي کوښښ کاوه چې ځان پکې په ځای کړي. ددي نظام په اوږدو کې چې به کوم خنډونه رامنځته کیدل هغه به له منځه وړل کیدل. بالآخره چې په خلاص ډول اعلان وشو چې دټولنې ټولو وگړو ته باید په یوه سترگه ونه کتل شي، ځکه چې ددوي ترمنځ پانگونه یوډول نده. پدي ډول د پانگواله طبقه دټولني لوړه او شتمنه طبقه ثابته شوه. په پانگوال نظام کې دصنعت وده او رقابت اړین وو. دغه لومړنی کیفیتي حالت وو چې خپله صنعتي کړنه رامنځته شوه. بورژوزي طبقې د خانانو او سردارانو دقوت د ختمولو ترځنگ دهغوي څخه سیاسي قوت یانې علم هم واخیست او په ټولنه کې د لا مطرح کیدلو سره سره په سیاست کې هم لومړي مقام ترلاسه کړ.

صنعت او آزادانه رقابت ته یې قانوني حیثیت ورکړ او ان تر دې چې دځینو هیوادونو اساسي قوانینو هم دغه ټکی پرځاې وباله او ویپتیله چې صنعتي وده ریښتیا هم اړینه ده. په سیاسي چارو کې یې د ټولټاکنو طریقه هم ور وپېژندله، چې دپانگوالې طبقې لخوا د برابرۍ او مساوات یوه فارموله کېل کیده. په اروپا کې سیاست قانوني حیثیت خپل کړ او د ټولټاکنو نظام پیل شو. هر هغه چا به د رایې ورکولو حق درلود چې سرمایه به یې درلوده، داپدې مانا چې یوازي پانگوال به درایې ورکولو او رایې اخستلو وړ گڼل کیدل او بس.

نوموړو به پانگوال مشران ټاکل او دگمرک په ورکولو، قانون جوړولو او ددولت په نورو چارو، یواځي همدوي مامور گڼل کیدل. درېیم دا چې صنعتي انقلابونو پرولتاربه دومره ډیره په چټکۍ سره پیدا کړه، لکه څرنگه یې چې پانگواله طبقه پیدا کړې وه. پرولتاریه ورځ په ورځ زیاتیدله ځکه چې سرمایه کاری یواځینۍ وسیله وه چې پرولتاریه یې زیاته او پراخه کړې وه. په همدې ډول پرولتاریه د وخت په تیریدلو سره زیاتیدله. په پاي کې پرولتاریه او پانگواله دواړه طبقې د لویو لویو ښارونو پرلوري وکوچیدې چې زیاتي گټې یې لاسته راوړې، او په همدې شکل د عامو وگړو لوې لوې جوپې دیوځای څخه بل ځای ته وکوچیدلې. (او یا) په همدې شکل گڼ شمېر عام وگړي له یو ځای څخه بل ځای ته وکوچیدل.

په دې وخت کې په یو ځاي کې د اوسیدلو لا آمله پرولتاریه ته دخپل ځواک احساس وشو. دغه میتود چې څومره ژر نمو کوي همدومره ژر دلاسي ماشینونو ځاي ورکیږي. په ډیره لویه پیمانه صنعتي وده تر سترگو کیږي خو دپرولتاریه معاشونه ورځ تر بلې په کمیدو پیل کوي. دهري ورځي پر تیریدو سره د دوی ژوند د کړکیچ او کړلیچ سره مخامخ کیږي، بې کاري په زیاتیدو شي، تر دې چې نور حالت د پرولتاریه د منلو او زغم وړ نه وی. پداسي ناوړه حالاتو کې پرولتاریه ددوه عمده لاملونو له امله ځان د سرکشي پرلورې رهي کوي، یوداچې بې اطمیناني او بل داچې پرولتاریه پخپل قوت باندې باور لري چې حالات بدلولاي شي. نو آخر دوي انقلاب ته ملا وتړې چې پخپله داصنعتي انقلاب دپرولتاریه د ټولنیز پاڅون علت وگرځیده.

پوښتنه -دصنعتي انقلاب نور کوم اثرات راڅرگند شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب-

داوبو انجن او دداسي نورو ماشينونو په اختراع کولو سره د صنعتي انقلاب ډېره کېښودل شوه، او په ډېر لږ وخت کې دډېر کم لګښت په ترڅ کې ډېره وده او توليد دصنعتي نظام او آزادي سيالۍ پولو ته ځان ورساوه. دلويو پانګوالو ډېر لږ تعداد د صنعت جوړوني په برخه کې پښه کېښوده. دتوليداتو د چټکۍ په ترڅ کې ډېر زيات شيان توليد او بازار ته وړاندي شول. خو خرڅ نه شول چې له همدې امله په دغه وخت کې يو لوي تجارتي بُحران رامنځته شو. کارخانې بندې او څيښتنان يې پر ځاي ساړه کېناستل. دپرولتاريه څخه ډوډۍ کش کړاى شوه او هر لوري ته ناوړه حالات او د وګړو بې کاري تر سترګو کېده. لږ وخت پس اضافي توليد بيا په خرڅيدو پيل وکړ. کارخانو بيا په کار پيل وکړ او د مزدورانو په معاشونوکې زياتوالى راغي. اوس نو کار روزګار د پخوا په پرتله ډېر په سمه توګه روان اوښه شوى وو خو لږه موده پس دغه کاروبار د زياتو شيانو په توليدولو او عرضه کولو سره بيا د پخواني بُحران پر لوري ستون شو.

د۱۹ ميلادي پيړۍ څخه تر اوسه پورې پانګوال نظام دمختلفو ناورينونو سره مخامخ شو. دهرو پنځو نه تر اوو۷ کلونو په مُوده کې دغه نظام د يو بل نوي اوډول ډول ناورين (بُحران) سره مخامخ شوى دى. له همدې امله دکارګرې طبقې ژوند مسلسل له ستونزو سره مخ شوى او په همدې توګه پداسې حالاتو کې ددي نظام ټول وجود دوامداره انقلابونو د خطرونو سره ترلي پاتې شوى دى.

پوښتنه - ددې هره ورځ تجاراتي بُحرانونو دعروج او زوال څخه څه تر لاسه کيږي؟

ځواب-

لومړى دا چې صنعتي نظام آزادانه تجارتي رقابت ته ژوند بخښلى دى او پانګوال نظام يې له همدې امله وروسته پاتې کړيدي. په عمومي ډول په لوړې کچې سره د صنعت وده او په هغې کې سيالي او د صنعتي توليد انفرادي جوړښت مجبورا د انسانانو د وجود ښکار شي. او په پايله کې بيا بند شي. يو صنعتي بازار تر هغې پورې خپل ځان ساتلى شي چې هغه د پرلپسي اقتصادي ټکرونو او غميزو ښکار شي، او بيا هغه وزغمي. خو دغه اقتصادي غميزې نه يواځې ديوې ټولنې دبربادۍ سبب ګرځي بلکى د هغې ټولنې د وګړو ژوند هم په خطر کې اچوي. په پايله کې پانګواله طبقه هم ورسره په سيند لاهوو شي. د دې غميزو څخه د مخنيوي په خا طر اړينه ده، چې د آزاد صنعت سازي څخه لاس واخيستل شي، چې داممکنه نده. خو بل لوري ته کولاي شو چې داسي نظام رامنځته کړاي شي چې په هغه کې ګټه تر پانګوالو پوري محدود پاتې نشي، بلکه د ټولنې داجتماعي اړتياوو ته په کتلو سره منصوبه بند اقتصادي نظام جوړ او دهر وګړي داړتياوو ته په کتلوسره توليدي کار په جريان کې وساتلاى شي. دويم داچې په ډېره لويه پيمانه دصنعت جوړوني او توليد وده کولاى شي چې داسي نظام رامنځته کړي چېرته چې د ژوند ټولې اړتياوې په ډېره لويه پيمانه پيداکيدلاي شي ، چې بيا وروسته د ټولني هر وګړى وکولاى شي دخپل استعداد پر کاروني سره آزاد ژوند وکړي. د ا پدې مانا چې حقيقت جوړونه او دتوليدي ګنجايش تر څنګ بُحرانونه او غميزې د يونوي نظام او ټولنيز جوړښت د نه شتون پر اساس رامنځته کيږي. که چېرې د پخواني نظام پرځاى نوى نظام، نوى ټولنيز حرکت رامنځته شي نو توليدي شيان دټولو بشري بدحاليو،غلاګانو، بُحرانونو او ټولنيزو نيګمړ تيايو مخنيوى کولاى شي. نو اوس داخبره څرګنده شوه چې ټولې ټولنيزې نيمګړتياوې لکه: لوږه، ناپوهي، وروسته پاتې والى، ناروغتياوې ،بې کاري او نور ډېر څه د نيمګړي نظام لا امله دي. چې د اوسينۍ وضعې سره هيڅ سمون نه خوري. ديونوي نظام پواسطه دټولو نيمګړتياوو د له منځه وړلو لپاره دتوليدي کار په لاس کې اخيستلو ته اړتيا ده. داسې عينى اوضاع چمتوشوې ده، چې مونږ کولاى شو ديونوي نظام په ور پېژندلو سره موجوده نظام ختم کړو.

پوښتنه - دغه نظام به څه ډول وي؟

ځواب-

په دغه نظام کې په صنعتونو او دتوليد په نورو برخو دانفرادي يا پانګوالو واک ختمول دي. ددغه نوي نظام په ترڅ کې ټولې فابريکي په ټولنيز تفاهم سره پرمخ بېول کيږي. چې موخه به يې د اشتراکي منصوبه بندۍ او د ټولنې دهر وګړي پرته له تعصبه ګټون وي. مونږ وايو چې رقابت بايد ختم او پرځاي يې تفاهم رامنځته شي. دپانګوال نظام په ترڅ کې پانګونه يا شتمني انفرادي او د پانګوالو لاسته ولوېدې چې شخصي پانګه اچونه يې وزېږوله چې موخه يې ګټه، هوس او تباهي وي. درقابت د زياتوالي له امله ټول صنعت دځينو خلکو لاسته ولويږي. هدف يې دادي چې شخصي رقابت دصنعت دانفرادي انتظام څخه نشي جلا کېداي. نو دابه ښه وي چې شخصي شتمنۍ ختمې کړاى شي او پر ځاي يې په توليدي کار کې په اشتراکي يا اجتماعي سيمو کې ټولنيز سمون رامنځته کړاى شي. او ټول توليد په تفاهم سره استعمال کړاى شي. يانې داچې توليد بايد په مشترکه حاکميت کې واخيستلى شي . په ساده او لنډو ټکو کې ويلي شو چې په توليد باندې بايد شخصي حاکميت له منځه ولاړ شي. دغه يواځني لاره ده چې کولاى شي په ټولنه کې بدلون رامنځته کړي او هم دصنعت دپرمختګ لپاره دغه خبره اړينه ګڼل کيږي. همدا خبره ده چې کمونستان تل وايي او په حقه دي، تر څو شخصي شتمني ختمه شوې نه وي، نو تر هغه انقلاب، نوي ټولنيز نظام او پرمختګ ممکن ندي.

پوښتنه- آيا ددې څخه وړاندې هم دشخصي شتمنيو خاتمه ممکنه وه؟

ځواب-

هو! په ټولنيز نظام کې دهر ډول بدلونونو ترڅنګ په ملکياتي خپلوۍ کې پاڅون، د دې خبرې تايېد کوي چې نوي توليدي ځواکونو ته بايد وده ورکړل شي. چې دغه په زړو توليدي نظامونو او ملکيتي شتمنيو کې ممکن نه وي. شخصي شتمني هم په همدې ډول رامنځته شويدي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې شخصي شتمنيو تل وجود نه درلود. کله چې مونږ د منځنيو پيړيو څېړو ته وګورو نو پر دغه وخت کې د توليد نوي طريقې د منفکچرنګ په صورت کې تر سترګو کيږي، چې په دغه وخت کې توليد ددستکار يا زمکوال تابع نشو کيدلي. په همدي ډول منيفکچرنګ له پخواني توليد څخه زيږون وموند او يو نوي شخصي شتمنۍ ته يې ځای ورکړ. چې ديو شخصي شتمني په صورت کې ښکاره شول.

دمنيفکچرنګ او صنعتي پرمختګ په لومړۍ پړاو کې شخصي شتمني ملکيتي/خپلولو صورت ونيو. او د دي نظام څخه وجود اخيستونکی نظام يو ځانګړي ټولنيز نظام وو. تر دي وخت پوري داممکنه نه وه چې توليد دې دومره زيات کړاي شواي واي چې د ټولو لپاره پريمانه ګټلي شوی وي، تر څو د زيات يا کم توليد په ترڅ کې د ټولنيز پانګونه کې اضافه، او د توليداتي ځواکونو ته په وده ورکولو سره يو قوي طبقي ته اړتيا وه، خو د دغې طبقې ځاي پانګوالې طبقي ونيو. ددي په پرتله د توليدي ځواکونو پرته يو بلې طبقې هم وجود درلود. چې هغه غريبه او ځپلې طبقه وه. وروسته داسې يو حالت رامنځته شو چې دغه طبقي د توليدي خپلوۍ په تارونو باندي وتړلې شوې.

دطبقو جوړښت پر توليد باندې انحصار کوي، چې څه ډول توليد وجود لري. په منځنيو پيړيو کې د توليد انحصار پر کرنه ولاړ او متکي وو. او هم دغه وه چې  ددي عهد په جريان کې ځمکوال او بزګر په وجود کې راغلل. ددي پيړۍ په وروستيو کې په ښارونو او کليو کې ګلډماسټر او په دياړي يا روزمز کارکوونکي کارګران تر سترګو کيږي. په ۱۹ پيړۍ کې دتوليدي ځواکونو نمو او پرمختګ په ډيره لوړه پيمانه ترسره شو.  نن مونږ داسې وسايل لرو چې دغه پرمختګ او يا چټکوالی په ډير کم وخت کې چټک کولای شو. له دغه توليد څخه ډير کم يې  د پانګوالې طبقې ته هم په لاس ورځي او دخلکوډير کميت په پرولتاريه باندي بدل شي. د پانګوالو پر شتمنيو کې زياتوالي راځي. خو دخلکو اقتصادي او روغتيايې حالت ډير کمزوری کيږي چې بالآخره دزغم ور نه وي.
او دريم داچې شخصي پانګونې او توليدي ځواکونه په ډير کم وخت کې زياتيږي چې د پانګوالۍ حدونه ماتولاي شي او ټولنيز غورځنګ رامنځته کولای شي. اوس حالت داسې ځای ته ورسيده، چې د شخصي شتمنيو ختمولو امکانات ډېر کم دي، خو دا کار په هر حالت او صورت کې اړين دی.

پوښتنه: آياپه شليېز ډول دشخصي شتمنيو له منځه تلل ممکن دي؟

ځواب-
که چېري په سلييزه توګه داسې بريښدلي، نو کمونستانو به دهغو خلکو چې غوښتل يې ، مخالفت به يې نه وو کړی. کمونستان پدي پوهيږي چې داډول دسيسې بې مفهومه او خطرناکې دي. دوي پدي پوهيږي چې انقلابونه شنه باغونه ندي او نه هم دهيلو په ترڅ کې  انقلابونه شوي دي. او نه هم امکان لري چې په مصنوعي توګه را وارد کړل شي. بلکه خبره داده چې هر ځای کې عيني حقايق او علتونه  ددې سبب شوي دي، چې انقلابونه راوپاروي.  داسې حالت چې انقلابونه راپاروي د هيوادونو ، شخصي هلو ځلو او طبقو څخه پورته خبره ده. نو دا خبره هم معلومه ده چې په ټولو فرهنګي ټولنو کې پرولتاريه په زوره  د کار لاندې ساتل کيږي. همدا خبره ده چې دکمونيستانو مخالفين  پخپله انقلاب ته لاره هواروي. که پرولتاريه په زوره انقلابي کړنې ته داستحصال له لارې مجبوره کړای شي، نو دوی به زمونږ ملګري شي، او کمونيستانو ته هم اړينه ده چې په عملي توګه دپرولتاريه له حقوقو ننګه  وکړي، څرنګه چې مخکې به دوي د خپلو نظرياتو او خبرو څخه دفاع او ننګه کوله.
پانګوال دولت او د پانګوال نظام چاړواکي دخپل نظام د خوندي ساتلو په خاطر له زورواکۍ څخه کار اخلي نو کمونستان کولای شي چې سوسيالستي نظام کې په شلييزه توګه شخصي شتمني له منځه يوسي. خو ولې د پانګوال نظام رسنۍ او خپله پانګوال فرهنګ خپلې نيمګړتياوې او دزورواکۍ تور په پرولتاريه او انقلاب باندې اچوي.

پوښتنه - دانقلاب طريقه او لاره به څه وي؟

ځواب-
دپرولتاريه د انقلاب په صورت کې به شخصي شتمنۍ له منځه لاړې شي او پرځای به يې  يو جمهوري اساسي قانون مرتب شي، چې په مستقيم او غيرمستقيم ډول به سياسي واک پرولتاريه ته سپارلي کيږی. په ډيرو پرمختللو هيوادونو کې دخلکو ګڼ شمير په پرولتاريه باندي بدل شويدی، بل لوری ته  په ځينو هيوادونو کې نه يواځې دخلکو کميت په پرولتاريه بدل شوی، بلکه د هغوي سره بزګران او دهغوي کروندي او آن پانګوال هم بدل شوي دي.خو دوي اوس په تدريجي ډول د پرولتاريه ملګري کيږي ځکه چې د دوي ګټې اوس سره شريکې کېدونکې دي. او دخپلو ګټو په خاطر هم د پرولتاريه ترڅنګ دريږي،  او هم دا اړينه ګڼي چې دپرولتاريه دغوښتنو څخه ننګه وکړي. داسې جمهوري نظام چې د پرولتاريه نمايندګي کوي خو په اصل کې د شخصي شتمنيو په له منځه وړلو کې کوښښ نه کوي او هم دپرولتاريه د حقوقو څخه ننګه نه کوي يو بې مانا ولسواکي ګڼل کيږي. ځيني کړنې چې داوسني حالتو ته په کتلو سره بايد ترسره شي په لاندې ډول توضيح کيږي:

۱.  شخصي شتمني د سترو ټيکسونو(ګمرکونو) او مالياتو  په واسطه محدودول. دميراثي ځمکو او مالونو ختمول دنړيوالو مالياتي ادارو له قرض ورکولو څخه انکار او نور داسې ګامونه اخيستل.

۲.  دټولو ځواکمونو صنعتونو، کرنيزو او مالي ادارو خپلول، دځمکو، کارخانو، مواصلاتو، بانکونو او دالوتکو څښتنان له هيواده اېستل او شړل.

۳.  دپرولتاريه دمخالفينو شړل او يا هم د داسې وګړو ځمکې او شتمني کنګل کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴.  ځمکې، فابريکې او نور شيان د کارګرې طبقې په کنټرول کې ورکول، په صنعتونو کې د کارګري طبقې ترمنځ د رقابت او سيالۍ له منځه وړل.

۵.  دصنعتي کرنې د پرمختګ په خاطر دکارګرې طبقې يو ځواک تيارول او بيا په تيره د کرنې په ځانګه کې دعصري وسايلو څخه ګټه پورته کول او له دې لارې د کرنيزو توليداتو زياتول.

۶.  اقتصادي نظام د مرکز تابع کول او ټولې کرنې د دولت په کنټرول کې ورکول. دسياسي سرمايې  په مرسته ديو ملي بانک ډېره کېښودل چې وکولاي شي ټولې اقتصادي ادارې وڅارې او هم دټولو شخصي بانکونو له منځه وړل.

۷.  په لويو صنعتونو کې پرمختګ، په کارخانو او مواصلاتو کې بدلون راوستل. دنويو کرنيزو ځمکو فعالول او په پخوانيو کرنيزو ځمکو کې بدلون راوستل.

۸.  دطبقاتي نظام له منځه وړل، يو نصاب او د زده کړې معياري نظام برابرول. ټولو کوچنيانو ته زده کړه  ورکول اود دوي زده کړه په هغه وخت کې پيلول کله چې دوي د ميندو څخه بيل او د زده کړې وړ وګرځي.  په ملي کچه د زده کړې او توليدي کړنې کارونه سرته رسول.

۹.   دصنعت اود کرنې په ځانګو  کې کارکوونکو ته دملت پر ځمکه ټولنيز او عصري استوګن ځايونه برابرول او ددوي په ژوند کې د ښاري او کليوالي وګړو داسط روزنه چې يو طرفه پاملرنه پکې له منځه يوړل شي او ټولې نيمګړتياوې چې پدې اړه وجود لري ختمې کړاى شي.

۱۰.  روغتيا، درملنه، زده کړه او نور داسې شيان چې دپانګوال نظام له اړخه اسانتياوې ګڼل کيدې، زمونږ له طرفه په ټولنه کې اساسي حق وګڼل شي او دټولنې ټولو عامو وګړو ته داحق ورکول. د مواصلاتي توکو ټولې وسيلې تر خپله حده په کنټرول کې اخيستل .

په شريکه کرنه کې ديووګړې ګام اخيستل ددويم لپاره اړين دي په دغه کړنه کې دشخصي شتمنيو له منځه وړل هم اړين دي. پس له دې به پرولتاريه(کارګره طبقه) پرمختګ ته چمتو کيږي. تردې چې په ټولو مالي وسايلو لکه: کرنه، صنعت، مواصلات، تجارت او دژوند په نورو ځانګو کې به پرمختګ کوي او زيار به باسي چې دا شيان د دولت په کنټرول کې راولي، داډول کنټرول پخپله دپرولتاريه طبقي جمهوري کنټرول ګڼل کيږي. ددغو وسايلو په مرکزي کولو سره به پرمختګ باندې ډيرې ښې اغيزې ښيندل کيږي.

څرنګه چې دپرولتاريه دهڅو او ورځني زيار څخه توليدي ځواکونه پرمختک کوي په همدې توګه اړوندې ادارې هم پرمختګ کوي.  بالاخره کله چې ټولې شتمنۍ، توليد او نور دژوند کاروبارونه  دخلکو اجتماعي لاسونو ته ورشي نو شخصي شتمنۍ به پخپله له منځه لاړې شي.  نو بيا به پيسې بې هدفه شي او کله چې دتوليداتو موخه دګټې لاسته راوړل نه، بلکه د انسان اړتيا پوره کول وي نو توليدات به دومره زيات شي چې انساني حالت به په بشپړه توګه تغير ومومي او دانسان اوسنۍ حالت به بيرته په پخوانيو ټولنيزو اړيکو باندې بدل شي.

پوښتنه - آيا دامکنه ده چې انقلاب په يوهيواد کې راشي اوبيا به بريا ترلاسه کړي؟

ځواب-
نه داسې نده! دنړيوال بازار له زيږون او هم دصنعتي تکامل په وجه دنړۍ انسانان له يو بل سره د مسلک له نظره تړلي او اړيکې لري. په تيره بيا په پرمختللو هيوادونو کې ټولنيز پرمختګ پانګوال او پرولتاريه په دوه ښکاره برخو کې را سره ويشلي دي. ددوي ترمنځ موجود ټکر، روان کشمکش او مبارزه په حقيقت کې د ننۍ زمانې مبارزه ګڼل کيږي. همدا لامل دی چې انقلاب په يوه هيواد يا ټولنه کې نشي ترسره کيدلاي .
دانقلاب نوعيت او تاثير د صنعت جوړونې، سرمايې  او نورو اقتصادي برخو په غوره والي پورې تړلي دي. څومره چې د دې نوعيت ښه وي هغومره د انقلاب نوعيت او اغيزه هم ښه وي. دبيلګې په توګه هر هغه هيواد چې دنمو او ودې مزل يې  سست وي انقلاب ته په ستونزمنه توګه زيږون ورکوي. خو هغه هيوادونه چې چټک پرمختګ لري انقلاب پرې خپلې اغيزې دنورو هيوادنو په پرتله ژر ښيندي، چې دغه به بيا يو نړيوال انقلاب وي او اغيزې به يې  هم نړيوالې وي.

داسمه خبره ده چې په ټوله نړۍ کې په يو ځل اوناڅاپه انقلاب نشي راتللي. اړينه ده چې دغه انقلاب په يو ځاى کې راشي خو دغه انقلاب د مُودې په تيريدلو سره بايد خپور او وغزيږي، که نه،  د له منځه تګ خطر سره به مخامخ شي. خو په يوه ټولنه کې راپاريدونکي انقلاب او بدلون ديو وګړي منتظر نشي پاتې کيدلاي. بلکې په دغه هيواد کې راپاريدونکي انقلاب په نړۍ کې انقلابي کړنې ته تودوالۍ او پياوړتيا ورکوي.
ريښتنې خبره خو داده چې يو بريالۍ انقلاب چې دهر ځاى څخه راوپاريږي حتما پر نورو هيوادونو خپلې مثبتې اغيزې ښيندي. د داسې نړۍ وګړي دتير وخت په نسبت ډير يو دبل سره نږدې وي.

پوښتنه - آيا دشخصي شتمنيو په له منځه وړلو سره ګټې ترلاسه کيدلاى شي او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب-
کارګران به ټول توليدي ځواکونه، تجارتي ذرايع، دشيانو ويش او دراکړې ورکړې وسيلې له شخصي لاسونو څخه ټولنيز واک ته وسپاري، او ټولنيزو ارتياوو ته په کتلو سره به پلان جوړونه او انتظامات ترسره کوي. ددې کار څخه يوه ګټه به دا ترلاسه شي ، لکه هغه صنعت چې لومړې په انفرادي لاسونو کې وو، وروسته به ټولنيزو لاسونو ته ولويږي. او پدې توګه به د شخصي شتمنيو ته د پای ټکی کيږدي او بيا به اقتصادي غميزې نه راځي. اضافي/فاضل توليد چې په موجوده پانګوال نظام کې زيات توليد ګڼل کيږي او هم له امله يې اقتصادي بدحالي او غميزې سر اخلي په کمونيستي ټولنه کې به دا بې مانا او بې کاره توليد نه وي، بلکه دې ته به لا نمو ورکول کيږي. فاضل توليد ددې پرځای چې بدحالي او غميزې تايېد کړي، دټولني هر وګړي ارتياوې به پوره کړي او د نوي توليد د تخليق وړ به وګرځي. چې له امله به يې دپرمختګ نوي دورانونه پيل شي. چې پرته له بدلون او وقفي به جريان ولري. خو دغه ټولې کړنې به وروسته ددې نظام د رنګولو څخه صورت ونيسي.

کله چې په پراخه پيمانه صنعت جوړونه پيل شي، نو ټولنه به دشخصي ملکيت فشار څخه ازاده شي، او په داسې شکل به بدله شي، څنګه چې د دستکارۍ پر ځای معصر صنعت راغی. له دغه پرمختګ څخه به دټولنې د هر وګړي ارتياوې پوره شي. په همدې توګه به کرنه هم چې په شخصي ملکيت او دهغې په مختلفو برخو ويشل شوي وه، آزاده شي. دساينس او ټيکنالوژۍ پر مټ چې کوم حاصلات کيږي هغه به د وګړو دارتيا دپوره کولو ضامن وي. پدې ډول به توکي دومره توليد شي چې دخلکو غوښتلو ته به ارتيانه وي. طبقې به له منځه ولاړې شي او داسې تضاداتي روېش به په نوي ټولنيز نظام کې له منځه ولاړ شي.

دطبقو وجود دزيار او کوښښ له امله منځته راغلی دی. د کوښښ او زيار ويشل چې په پانګوال نظام کې وجود لري له منځه به ولاړ شي. فقط وسايل، ټيکنالوژي، کېمياوي او ميخانيکې وسايل دتوليد او صنعتي ودې لپاره پوره نشو ګڼلی، خو مونږ به زيار باسو تر څو دغه وسايل او آلات په سمه توګه د خلکو د پرمختيا لپاره په لاره واچوو، کټ مټ داسې چې په ۱۸ زيږديزه پيړۍ کې دصنعتي انقلاب وروسته دبزګرانو، لاسي صنعت، هُنرمندو او منيفکچرنګ حالت بدل شو. همداسې يو اشتراکي توليدي نظام به يو نوي انسان وزيږوي. چې له امله به يې موجوده طبقي له منځه ولاړې شي، او غير طبقاتي ټولنه به په وجود کې راشي. ټولنيزه توليدي کرنه به دپرمختګ علت وګرځي. نوي وسايل او نوي توکي به رامنځته شي. چې دغه توليد به فقط د يو څو غټو پانګوالو په لاسونو کې نه وي لکه چې په نني عصر کې د پانګوالۍ په نظام کې وجود لري. چېرته چې هر فرد دټولنې د انفراديت په چوکاټ کې د توليد يوې ځانګې ته محدود پاتې دي. او پانګواله طبقه يې د استحصال زيار باسي. نومورې افراد پخپل ټول ژوند کې دخپل يوځانګړې استعداد څخه کار اخلي، او وده ورکوي. دا پدې مانا چې پانګوال نظام خپل هر وګړی ديوې ځانګې پورې محدود ساتي، او ډير کم يې د انسان دتخليقي استعداد په مطابق کاروي.

دکميونل (مشترکه يا ګډ) پلان شوي صنعت او دژوند چارې د يوې ټولنې داشتراکي اړيکو په ترڅ کې پرمخ ځي. دبشريت دهر ډاکټر څخه دهغه د فطرتي استعدونو په ترڅ کې پوره پوره ګټه اخيستل کيږي. چې په همدې توګه دتوليدي کړنې په پرمختګ او ګنجايش کې وده راځي. زيار ويشنه په پانګوال نظام کې ديو انسان څخه بزګر جوړوي، خو د بل څخه موچي جوړوي. ددربيم څخه صنعت کار او څلورم څخه دسټاک مارکېټ چلوونکې جوړوي، چې دا ټول د ماشينونو تابع وي. دغه توپير به په بشپړه توګه دنوي انقلاب په رامنځته کېدو سره له منځه ولاړ شي.

په کميونزم کې به هر ځوان ته په بشپړه توګه دکار روزنه ورکول کيږي، او ډير ژر به وکولای شي چې دتوليد په ټولو کړنو باندې لاس رسی پيداکړي، او دلاس رسي څخه به وروسته وکولای شي چې يو بل کار ته لاس واچوي. پدې ډول به هغه ديو تل عمره کار څخه خلاصون پيداکړي کوم چې د کار څخه د خسته کيدلو سبب ګرځي. چې ټول عمر تيرول په يوه کار کې دپانګوال نظام ورکړه ده. په کميونزم کې ديو ځوان په ډيرو هُنرونو کې زده کړه د ټول انسانيت دپرمختګ او ودې باعث ګرځي.

داسې ټولنې چې بنسټ يې دکميونزم پر فلسفه ايښودل شوی وي هر وګړي ته داحق ورکوي چې خپل استعداد په بيلا بيلو برخو کې وکاروي، ددې کړنې په ترسره کېدو سره به په چټک ډول د طبقو شتون له منځه ولاړشي. په همدې توګه دکميونزم پر بنسټ ايښودل شوي نظام به دټولنو ترمنځ توپير او سيالۍ له منځه يوسي او هم به دښارونو او بانډو ترمنځ توپير ختم شي. خلک به وکولای شي چې په بانډو او ښارونو کې د کرنې او صنعت څخه پرته، نوري ستونزې پرمخ بوځي. ددوي ترمنځ راکړه ورکړه او ناسته پاسته به داشتراکي نظام په چوکاټ کې وي، چې ددوي ترمنځ به فاصلې راکمې کړي.

دکميونزم پر بنسټ ولاړ نظام چې په کوم ځای کې طبقې له منځه وړي هم هلته هڅه کوي چې هغه وسايل او لاملونه هم له منځه يوسي کوم چې دطبقو دزيږون سبب ګرځي. دبزګرانو دبزګرۍ سره اود صنعتي خلکو دصنعت سره تړل هغه کرنه ده چې په دواړو برخو کې يې د پرمختګ مخه ډب کړيده. دغه کرنه کيدلای شي ديوې ټولنې دپرمختګ پرمخ کې خنډ وګرځي.

دخلکو ترمنځ اشتراکي احساس دګډ پرمختګ باعث ګرځي. چې له امله به يې دهر وګړي ارتيا پوره کيږي. د ورخطايۍ، منافقت او د بې باورۍ حالت به په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي. په موجوده نظام کې ديو څو خلکو په خاطر دډيرو خلکو حق تلف کيږي، دا توپير به له منځه ولاړ شي. ټول ټکرونه او ډلې به ختمې شي. کميونزم به د زيار ويشنه له منځه وړي او عام وګړو ته به په پوره توګه دکار کولو او د دوي داستعداد سره سم داستحصال مواصلات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دصنعتي توپير له منځه ورل او دنورو کارونو په ترڅ کې په نړيواله توليدي کړنه کې ګډون، ګټې او دکليو، ولايتونو او هيوادونو دبنديزونو څخه خپلواکي او دشخصي شتمنيو له منځه ورل به ډيرې ښې اغيزي رامنځته کړي.

پوښتنه - دکميونزم په کورنۍ نظام باندې څه تاثيرات پريوځي؟

ځواب-
په دغه نظام کې به بشري اړيکې دکښې، بُخل او منافقت څخه پاکې وي چې بنسټونه به يې په ريښتني بشري قدرونو باندې وي. خو دا ټول هغه وخت کيدلای شي، چې شخصي شتمنۍ له منځه ولاړې شي . کوچنيانو ته به په مساوي بنسټونو زده کړه وركول كيږي. وده چې يو ټولنيز ترون دی، په خاوند باندې انحصار او محتاجي، د کوچنيانو په مور او پلار باندې دمصارفو پيټي او دکوچنيانو په والدينو باندې به انحصار ختم شي.

داټول هغه څه دي چې پانګوال نظام زيږولي دي. مونږ په کمونيستي نظام کې دميرمنو دمشترکه ملکېت دشميرلو په اړه داسي ځواب ورکوو چې دميرمنو مشترکه ملکېت يو داسي کېفيت دی چې دپانګوالې ټولني سره تړل شويدی. چې په دغه نظام کې دميرمنو ارزښت دجنس په څير وي. ميرمنې د فحاشی دبازار، دحُسن مالکه، ځان پلورونکې او ديوي نخاګري په توګه کارول کيږي. دميرمنو دحُسن څخه ناوړه او ناروا ګټه په شخصي ملکېت کې پورته کيږي. کله چې دغه شخصي ملکېت له منځه ولاړ شي نو هيڅ ميرمن به خپل حُسن ونه پلوري، او نه به فحاشی کولو ته مجبوره شي.

دپانګوال نظام په له منځه تګ سره به ميرمنې د جنسي تفريق او غلامۍ څخه آزادې شي، او هغوي به په ريښتيا د يو خوشحاله، باعزته او ښه ژوند درلودونکې شي. کمونيست نظام دميرمنې دمشترکه ملکېت پر ځای ددغه تعصب پېښې وهي. په سوسيالستي نظام کې کورنۍ له منځه نه ځي، خو حيثيت او بنسټونه يې بدليږي په دا کې به له خپلوۍ څخه مفادپرستي، له احساساتو څخه خودغرضي، مجبوري او محتاجي په بشپړه توګه له منځه ولاړه شي.

پوښتنه - د ملتونو، قومونو او ولسونو په اړه به د کميونزم څه چلند وي؟

ځواب-
ولسونه او مليتونه به داکثريتي طبقې تابع شي، په دغه نظام کې به دومره نظم وي چې خلک به ديو بل سره عادت او بلدشي. پدي ډول به ډير ژر مذهبي، توکميز،نژادي، سيميز او کلتوريزي ترينګلتياوې له منځه ولاړې شي. دتوکميز او قامي وياړ په نوم موجودي ټولې ډرامې او د تير وخت ظُلمونه، روايات او رواجونه به له منځه لاړ شي. دټولو فرهنګونو معياري رُوح ته به ښکلا ورکولای شي. دټولو طبقو دپرمختګ لپاره به وسايل ورکول کيږي. دمالي جبيرو استحصال به له منځه ولاړ شي.

په سوسيالسټ فيډريشن کې دټولو ګډون کوونکو ملتونو په خوښه ګډون، دسرمايې او ملکېت څخه پاکه ټولنه چې له امله به يې اشتراکي ټولنه دډول ډول رنګونو، توکمونو، ژبو او فرهنګونو يوه په زړه پوري ګلدسته وي. او هم به داټولنه د ترينګلتياوو، کېنو څخه پاکه او پر سپيڅلو احساساتو ولاړه، دبشرې لوړوالي، يووالي او سوکالۍ يوه ځانګړې بيلګه وي. داسي يو وخت به راشي چې خلک به پر يوه ځاي بغير له کوم توپير څخه اوسيږي.

پوښتنه - مارکسيزم څه ته وايي ؟

ځواب-
دکارل مارکس د۱۸۱۸ء زيږديز څخه تر ۱۸۸۳ء ز کال پوري هلې ځلې او د نظرياتو ټولګه، مارکسيزم بللی شو. مارکس په ۱۹ زيږديزه پيړۍ کې پر دريو نظرياتي رجحاناتو باندې کار وکړ او لوړوالی يې ور وبښه. هغه دري نظريې پدي توګه دي: کلاسيکې جرمنی فلسفه، دبريتانيايي نوي سياسي اقتصاديات او تاريخي ماديت.

ان ترديې چې دکارل مارکس مخالفين هم ددغې خبرې تايېد کوي چې د مارکس خپلمنځي پياوړتيا او پراخو نظرياتو ټولنيز جدلياتي ماديت او د ساينس بنسټونو د ساينسي سوسياليزم ډيره کېښودله او د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې يې دکارګر غورځنګ په نوم نظريات او برنامې ترسترګو کيږي. چې داپخپله دسوسياليستي انقلاب اودکمونيستي ټولنې درامنځته کولو لپاره اړين بنسټونه بلل کيږي.

پوښتنه - مارکسيزم، لينينزم او ټراټيسکېزم څه ته وايي ؟

ځواب-
دغه اصطلاح په عامه توګه دانقلابي مارکسيسټانو لپاره کارولۍ کيږي. مارکسيسټان هغه انقلاب کوونکې دي چې د موجوده نظام پرځاي دبل نظام غوښتنه لري. خوبل لوری ته اصلاح کوونکي هغه خلک دي چې دپانګوال نظام د مهربان او شريف النفسه جوړولو هڅې کوي. واضحه خبره ده، چې دا کار ناشونی دي. لينينزم دمارکس تصّورات خپرول(دپانګوال نظام د جبرپرضد، استحصال، پانګونې او دنړۍ پر آباد نظام دسترو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو پرضد) لینیزم په نوم یادیزي. خو دمارکسیزم او لنینزم ترمنځ تر اوسه پوري یوڅه ستونزي موجودي دي. ځیني شخصیتونه لکه سټالن، ماؤ او بیا ځیني نوردټراټیسکېزم پیروان دي. که چیرې دا ومنلي شي چې سټالن او ماؤ مارکسیسټان نه وو خو دوي په حقیقت کې د مارکسیزم دمفهوم او روزل شویو رجحاناتو نماینده ګي کوله. ولې چې د دوي په زمانه کې ریاست د کارګرانو دجمهوري کنټرول پر بنسټ نه وو، او دیوڅه بیوروکریټو پر آزادانه بنسټونو ایښودلی شوی وو. دوي دکارګرې طبقې جسدونه سره د یوڅه سپیو په څیر ځانونه تړلي وو.

ټراټیسکېزم عبارت له هغه کرېږ څخه ده چې ۱۹۲٤ ز کال کې دلینن د مړینې وروسته دهغو وګړو لارښوونه کوله کومو چې دسټالن د تګلارو سره اختلاف درلوده. په حقیقت کې لیننزم (Leninism) دمارکسیزم (Marxism)یو تسلسل دی. خو ډیر خلک دغه اصطلاح د هغو خلکو لپاره کاروي چې له سټالنیسټانو څخه جلا شوي دي. خو ترڅنګ یې ډیر داسې خلک چې دمارکسیزم،ټراټیسکېزم او لیننزم (Leninism)پر تسلسل پوهیږي، ځانونه مارکېسټ معرفي کوي، ځکه چې ددغه ټولنې په سلګونو منونکي داسې جنوني او احساسي تګلارې غوره کړي دي، چې له امله یې دټراټسکې نوم بدنام شوی دي. او ټراټسکې چې د مارکسټ نظریې لپاره کوم خدمت ترسره کړیدي هغه عبارت له دوه کارونو څخه دي:
لومړی داچې د سټالینزم ساینسي تجزیه یې ترسره کړه، او دوهم داچې دځانګړې انقلاب نظریه یې ورکړه چې پدې توګه یې وکولای شول پر نوي آبادیاتي نړۍ ښه اغیز وښیندي.

پوښتنه - آیا په یوه وخت کې د ولسواکۍ او سوسیالیزم یوځاي شتون ممکن دی او کنه؟

ځواب-
لومړی خو دامفکوره له بیخه ناسمه ده چې مارکسیزم او جمهوریت دیو بل سره په ټکر کې دي. ریښتیا خو داده چې د پانګوال نظام په شتون کې ریښتنی جمهوریت په وجود کې نشي راتلاي. هو! داسي کیدلای شي چې یو څو کاله وروسته تاسو په صدراتي او پارلیماني ټولټاکنو کې ونډه ولرئ، خو که لږ ځیر شو او وګورو چې په دغه ټولټاکنو کې ونډه اخیستونکي څوک دي؟ پر ډاګه ده هر هغه څوک چې پیسې ولري. ددوي په بریالي کولو څوک پیسې لګوي؟ ستر او لوي تجاران، کمپنیانې اوپانګوال- باالمقابل تاسو سره څه بدیل نشته. په عملي توګه دغه جمهوریت فقط دشتمنې اوپیاوړې طبقې په ګټه دی دکوم څخه چې دبوروژوا طبقه مانا اخیستلي شوو. له دې څخه لا اړینه خبره دا ده چې دغه طبقه ټاکلې شوې ده، تر څو دولت رامنځته کړي، نو دوي سره پرته له خبرو دعمل لپاره هیڅ تګلاره وجود نلري. که چیرې دامریکا د دریو شتمنو سړیو سره دامریکایې وګړو په پرتله دري کروړه دولت په لاس کې وي دوي کولاي شي چې د دولت چاري پر مخ بوځي. دخپل اقتصادي پریکړو په ورځ دوي دمیلونونو انسانانو د ژوند پریکړې کوي. مانا دا چې دروزګار، روغتیا او پوهنې په اړه پریکړې کوي.

کله چې دغه ډول سترو او لویوتجارتي کمپنیو ته خطر پیښ شي نو دوي کولای شي چې دولتي ځواک او زور وکاروي. دبیلګي په توګه کله چې په چیلي کې په کال ۱۹۷۳ ز کې د سلواډ ور ایاندي دور دجمهوري دولت ولسي ټاکنو پر محال د مسو او اوسپني دکانونو او د مخابراتو فابریکې (چې دا د امریکایي کمپنیو شتمني وي) دمحدودولو او ولسي کولو پریکړه وکړه، نو په دغه وخت کې ټولو دغو کمپنیو په کروړونو ډالره مفقط کړه او په پایله کې یې د سي-آیې -اي په واسطه په چیلي کې پوځي بغاوت رامنځته کړ او ایاند یې په مرګ ورساوه.

چې پر ځاي یې ظالم پوځي دیکتاتور پنوشي دواک پر ګدي کښیناوه. د۲۰۰٤ زیږدیز کال په امریکایي صدراتي ټولټاکنو کې لویو کمپنیو دبُش دکمپاین په خاطر ۱۰.۳ میلونه ډالره مفقط کړل چې داسې بُش دواک ګدۍ ته ورسیده، دغو کمپنیو ددي مفقط په بدل کې دګمرکانو دټکس څخه خلاصون وموندل، چې په پایله کې یې ٥ میلیارده ډالره ګټه ترلاسه کړه. ددغو بیلګو څخه داجوتیږي چې پانګوال جمهوریت څومره ګټور او څومره ناوړه کاروبار دی. دلته دغه پوښتنه راولاړیږي چې په دغه پانګوال ځواکونو کې دومره ستر ځواک له کُومه راپیداکیږي؟ دا د دې لپاره چې دوي په ریپبلیکېن او ډیموکراټ کې په میلونونو ډالره سرمایه کاري کړیده. او په وروستني پړاو کې دولت او سیاسي ګوندونه ددې لویو پانګوالو ګوډاګي ثابت شویدي. همدغه کمپني دي چې وروسته بیا پریکړې کوي او تګلارې جوړوي، چې باید په کومو کړنو عمل وشي او په کومو ونه شي.

داهم باید ډاګه کړلای شي چې ددې ډول سیاسي ګوندونو ریښې پر خلا کې نه بلکه ددغو لویو پانګوالو او کمپنیو په ملیاردونو ډالرو سرمایو کې دي. همدا لامل دی چې دغه ګوندونه تل ددې پانګوالو او کمپنیو تر اغیزو لاندې وي. پس په ریښتیا دغه کړۍ دقانون،حقیقت او یا انصاف ورکولو لپاره نه بلکی د یو څو پانګوالو ته دګټو رسولو په موخه په وجود کې راځي، تر څو دوي ته یو څه په خوله کې ورواچوي اوبس.

بل اړخ ته له سوسیالستې انقلاب وروسته د نړۍ دژوند تیرولو ټول وسایل په شخصي لاسونو کې نه، بلکی داکثریت طبقې په لاسونو کې ورکوي. چې په جمهوري توګه کنټرولیږي، او پر مخ یې بوځي. دغه په ریښتیا هم جمهوریت وي، چې په کوم کې به خلک وکولای شي، پرخپل ژوند کنټرول ولري. دوي به په جمهوري توګه سره وکولای شي چې خپل نماینده ګان وټاکي، دولت جوړ کړي او ورسره به دغه نماینده ګان پر معیشیت باندې هم کنټرول ولري. او وبه کولای شي چې په ریښتیا په شیانو کې بدلون راولي. که دغه نماینده ګان ونشي کولای چې کارونه په سمه توګه ترسره کړي نو خلک به وکولای شي چې دوي له کاره ګوښه کړي، او دغه نماینده ګانو ته به دیو مزدور له معاش څخه زیات معاش نه ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دا اوسنی نظام کې چې کوم نماینده ګان وجود لري ددوي مراعات خو ددوي دمعاشونو څخه هم لوړ دي. په اشتراکې نظام کې به لوړ استعداده خلک دخپل استعداد مطابق په کارونو ګمارل کیږي. ددې لپاره چې دوي ته به اضافي استعداد ورکول کیږي خو د چوپړ په خاطر- دغه نماینده ګان به دټولنې دوګړو له منځه ټاکل کیږي لکه څرنګه چې لینن ویلي دي. اشپز به هم وکولاي شي چې صدراعظم او ولسمشر جوړ شي. دغه به په حقیقي مانا کې جمهوریت وي.

پوښتنه- په سوسیالیزم کې به تولید څرنګه ټولنیز کیږي او ددولت وېش به څه ډول وي؟

ځواب-

عصري تولید تقریبا ټولنیز دی دبیلګي په توګه یو سړی په یواځې توګه نشي کولای چې ټول کمپیوټر ځان ته رامنځته کړي . همدا لامل دی چې عصري تولید دومره دپیچلتوب ښکار دی چې فقط دیو کمپیوټر جوړولو په خاطر دنړۍ زرګونه خلک زیار باسي، تر څو کمپیوټر رامنځته کړي. له اومه موادو نیولې بیا تر هارډویر ډیزاین پورې او د دې د تشکېلولو څخه بیا تر کلر (رنګ) راوړلو پورې دا ټوله یو ټولنیزه کړنه ده. خو ددغه ټولو کارګرانو تخلیق شوی دولت په مساوي توګه نه ویشل کیږي. میلیارډران پانګوال او لویې کمپنیاني ددې دولت ډیره لویه برخه پر یواځې ځان هضم کوي. نو معلومیږي چې دغه عصري کارګره طبقه ده چې دهرې ورځې کارونه او فابریکې چلوي.

واحده کارګره طبقه ده چې ټولنیز دولت جوړوي خو دوي ته دخپل زیار بدل په لاس نه ورځي. دا سمه ده چې دوي ته دمعاشونو په لوړولو او بونس ورکولو یو څه ناځه لاسته ورځي، خو پانګوال چې خپله کوم بونسونه هضموي هغه ددې په پرتله څو ځلې ډیر لوړ دي. دبیلګي په توګه په مالداره صنعتي هیوادونو کې لویو پانګوالو او مالکانو ته په لکونو تحفې او بونسونه دکرسمس دلمانځلو په خاطر ورکول دکوم ځاي انصاف دی؟ دلته د دې خبرې ارتیا ده چې دولت باید په هغو خلکو وویشل شي چې جوړونکې یې دي.

پوښتنه - پرادیوالی (بیګاني)څه ته وایې ؟

ځواب-
په پانګوال نظام کې دپردیوالي اساسي لامل دکارګرې طبقې او دهغې دزیار څخه تخلیق شوی تولید ترمنځ ناانډولتوب او دپانګوال نظام پرظلمونو او استحصال پراته پرده ده، چې دا د اُجرتي زیار او سرمایې ترمنځ حقیقي ریښې دپټولو کوښښ کوي. کارګر چې کوم تولید او دتولید جوړونې کومه کړنه ترسره کوي، دهغې بدل نه ورکول کیږي تردې چې دخپلو ډیرو جوړ کړی شوو شیانو څخه هم بې برخې وي چې له امله یې د زیار او تولید ترمنځ پرادیوالی رامنځته کیږي. چې په پایله کې بیا ټوله ټولنه او کارګره طبقه ښکار کیږي. ددغه پټ استحصال له امله دشیانو سره دانسان حرص زیاتیږي او داسې شیان په ژوندیو شیانو بدل شي، او انسان بیاخپل حیثیت دلاسه ورکړي او دشیانو ځاي ونیسي.

دغه لوړ او پراسرارې بشرې اړیکې دشعور تل ته ولویږي چې بیا دغه حتمي او خطر یې ګڼل کیږي. همداسې په انګریزي کې کارګرې طبقې ته لاس ویلی کیږي او دغه مثال هم ورکول کیږي چې د فلانې سړي قدراو قیمت یو میلیارډه ډالر دي. نو ددغه پرادیوالي بنسټ په تولیدي خپلوۍ یا که چیرې په قانوني ژبه کې ورته وویلی شي، نو په شتمنې خپلوۍ ولاړ دي.

۲۶- دیوې زمانې غالب فکرونه څه ته وایې ؟

ځواب-
دهرې زمانې غالب فکرونه او مفکورې دواکمنو مفکورې وي. دا پدې مانا چې دټولنې کومه طبقه چې مادي ځواک لري هغه دفکري ځواک په اړه هم مطرح وي. هغه طبقه چې مادي تولیدي ذریعې یې په لاس کې وي پر ذهني تولید باندې هم چپاو او یرغل کوي. نو مونږ ویلاي شو چې دذهني تولیدي ذریعو څخه دمحرومه طبقې فکرونه دواکمني طبقي تابع وي. د مادي ریښو څخه چې کوم فکرونه جوړیږي هغه ته واکمن فکرونه ویلی کیږي. پدې ترتیب دغه ډول فکرونه او مفکورې ددوی دغلبې او واکمن فکرونه بلل کیږي. هغه خپلوی/ریښې چې د تصوراتو په څېر څرګندیږي، د واکمنې طبقې د پېژندګلوۍ باعث ګرځي. لحاظه دا خیالات د دوی د غلبې په ترځ کې رامنځته کیږي.

هغه خلک چې واکمن وي، دنورو شیانو ترڅنګ شُعور هم لري. همدا لامل دی چې دوي دپوهاندویۍ او مفکورې جوړونکي په توګه هم پاچایي کوي، او دخپلې زمانې د مفکورو تولید او تقسیم هم کنټرولوي. په همدې لامل ددوي خیالات او مفکوري د زمانې حکمران فکرونه یا مفکورې ګڼل کیږي.

پوښتنه - په تاریخ کې د فرد رول څنګه ارزیابي کیدای شي؟

ځواب-
مارکسیزم هیڅکله دفرد د رول څخه انکاري ندی خو دومره وضاحت ضرور کوي، چې داشخاصو اوکوندونو دکردار پریکړه دتاریخي تکامل د سوایي ډاګیز معروض (عینې اوضاع) او ټولنیز چاپیریال کوي. چې د دغه وروستنۍ پریکړه دتولیدي ځواکونو دپرمختګ سره تړل کیږي. داپدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا نده لکه ځرنګه چې دمارکسیزم نیوکه کوونکي وایې چې انسانان فقط دمادیت تر ګزارونو لاندې ژوند کولو ته اړ شوي دي. مارکس او اینګلز یې وضاحت داسې کوي چې انسانان خپل تاریخ پخپله جوړوي، خو دوي دغه کار پخپلواکه توګه نه ترسره کوي. بلکی دوي دچاپیریال تر اغیزې لاندې دا تاریخ جوړوي په کوم کې چې ژوند کوي.

په هر یو چاپیریال کې دبعضوسیاسي شخصیتونو شخصي خاصیتونه اغیز اچوي لکه فکري بشپړتیا، مهارت، ډاډ، جرات او ثابت اوسیدل. دانسان په ژوند کې داسې حتمي حالت هم رامنځته کیږي چې دسیاسي قیادت درول له امله حالت او وضعه په بشپړه توګه بدلون بیامومي. داسې عهدونه عام نه ګڼل کیږي داهغه وخت سر اخلي کله چې اوږد مهاله پټې تربګنۍ دجدلیاتي علم له مخې مقدار په معیار بدل شي. خو دا معلومه ده چې افراد فقط دازادي په زور دټولنې تکامل نشي ټاکلی. خو په بشري تاریخ کې داخلي عناصر دټولنې دبدلون باعث ګرځي.

پوښتنه - دټولنې مادي بنسټونه څه دي؟

ځواب-

ځرنګه چې چارلس ډارون دنامیاتي فطرت، قانوني تکامل درياضي کشف دی همدغسې کارل مارکس دانساني تاریخ، قانوني تکامل کشف ګڼل کیږي. مارکس دغه ساده حقیقت کشف کړ چې وروسته دنظریاتي ځار، څېړنې لاندې پټ شو. مطلب له سیاست، ساینس، مذهب او د هُنر دپلټنې مخکې باید انسان ته کور، ډوډۍ، کالې او څښل مساعد کړای شي. نو پدې توګه دټولنې دګزران لپاره مادي وسیلې او دهغې په پایله کې په هغه عهد کې د ولس ټولنیز پرمختګ هغه بنسټ دی چې پر اساس یې دیو دولت اداري، قانوني فکرونه، هُنر او ان تر دې چې د یو ولس مذهبي فکرونه هم تکامل مومي. نو همدا خبره ده چې باید دشیانو تجزیه پر دغه اساس وشي. نه دا چې پر نورو شیانو څنګه چې په رواياتي توګه کیږي.

پوښتنه - دټولنیزې تکامل قوانین څه دي؟

ځواب-

دټولنیز تولید له امله وګړي په داسې خاصو ریښتو کې تړل کیږي چې هغه نه شلیدونکې وي، او د دوی دارادو تابع وي. دغه تولیدي ریښې دتولیدي ځواک دپرمختګ تر یوه سویه پورې هم آهنګه کیږي. او د ټولنې دغه اقتصادي جوړښت د تولیدي ریښتو په ترڅ کې منځته راځي. دغه هغه لوی رښتینی بنسټ دی چې پر سر یې قانوني اوسیاسي جوړښتونه رامنځته کیږي. او دټولنې دشعور مختلف ډولونه هم د دوي سره سمون خوري. دمادي ژوند دغه طریقه دتولید ټولنیز، سیاسي او د رُوحاني عواملو عمومي کردار ټاکي. دانسانانو شعُور د دوي د وجود یقین نه کوي، بلکی ټولنیز وجود ددوي دشعُور یقین کوي. دتکامل په یوه خاص پړاو کې تولیدي ریښې پرځاي د دې چې دتولیدي ځواکونو دپرمختګ باعث شي خنډ جوړوي. ددي څخه وروسته دپاڅون پړاو پیل شي.
داقتصادي بدلون وروسته هر لوړه طبقه دبدلون سره مخ کیږي. ددغه بدلون له امله هغه ډله چې رامنځته کیږي دمادي معیشت دراتلونکي بدلون تعین یې خصوصا په فطرتي، سیاسي او ژور نظر سره وکړای شي. بل لوري ته قانوني، سیاسي، مذهبي، جمالیاتي او فلسفیانه نظریات هغه نظریاتي صورتونه دي، چې له امله یې انسان دتربګنیو او ټکرونو په اړه فکر اومبارزه کوي. مونږ دچا په اړه هغه رایې نه ورکوو چې نوموړي یې دخپل ځان په اړه لري.

همداسې مونږ ددغه بدلونونو عهد پلټنې دشعُور پر بنسټ نه کوو بلکه ددې برعکس دغه شعُوري وضاحت دمادي ژوند دمخالفتونو، دتولیدي ټولنیزو ځواکونو او دتولیدي ریښو تر منځ موجودټکر پر بنسټ کوو. هیڅ یو ټولنیز نظام تر هغه وخته پورې نه ختمیږي تر څو چې تولیدي ځواکونه خپل ځای څخه چې ورتیا یې ولري لاس رسی ونه لري. او نوي تولیدي ځواکونه چې دزاړو تولیدي ځواکونو ځای به نیسي نشي کولای چې راڅرګند شي. چې تر څو دا مادي اوضاع د پخواني نظام په تل کې ځان آماده کړی نه وي. انسان تل دهغه مسایلو سره مبارزه کړیده، چې نوموړي کولای شي چې ترسره یې کړي. که مونږ د دغه مسلې په ژوره توګه اندازه واخلو نو تل دغه خبره مخې ته راغلې ده چې مسله هغه وخت سر راپورته کوي چې کله دهغې ستونزې دحل کولو لپاره مادي حالات رامنځته شویدي. یا کیدلای شي چې د تشکېل په مراحلو کې وي. که لږ ځیر شو نو دانسان پخواني ځمکوال او دعصري پانګوالي تولیدي طریقې ته د ټولنې دبیلا بیل تکاملي پړاوونو نوم ورکولای شو. پانګوال تولیدي ریښې دټولنیز عمل وروستی تصادمي شکل دی. چې دا انفرادي تصادم نه بلل کیږي بلکی دا د ټولنې داوسیدونکو د ژوند دحالاتو سره تړلی دی. او بل کیدلاي شي ژبه د تصادم دمخالفت سره دپانګوالې ټولني په تل کې تکامل کوونکې تولیدي ځواکونه پخپله دمخالفت یا تصادم دختمولو لپاره مادي اوضاع مساعده کړي. نو مونږ ویلای شو چې دغه د بشري ټولنې تاریخ څخه مخکې دتاریخي مرحلې وروستی پړاو دی.

پوښتنه -دپانګونې د تکامل تاریخي رجحان څه دی؟

ځواب-
هغه خلک چې تولید کوي زښت په ظُلم او بدمعاشۍ سره شړلی کیږي او دغه احساساتي محرکات ډیر په بدنامه، چټل، لویدلي او د کرکې په بنسټ ولاړ وي. بزګران او دستکارو ته دشخصي شتمنیو په سترګه کتل کیږي، چې نوموړي دغه ملکېت په شخصي زیار او خپلواکۍ لاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړي وي. برعکس پانګوال د ډیرو زیاتو شتمنیو استحصال کوي. دغه پخپله دپانګوال تولید د داخلي قانون څخه راوځي. یوپانګوال ډیر زیات خلک دمرګ کندې ته وراچوي. ددې لاس دپانګوالو دلاسه د ډیرو نورو پانګوالو په شریک کیدلو تر څنګ محلي زیار یا کوښښ چې پخپل منځي مرستې سره ولاړ وي او دسیاسي شعور، تخنیکي استعمال، منظمي کرني اونورو داسې، زیار په داسې شیانو کې بدلیدل، چې په مشترکه توګه سره کارولای کیږي. ټول ذریعي تولیدات دټولنیز مشترکه کوښښ په توګه استعمالول، ټول محصولات په نړیوال بازار کې ښکېلول او د دې ترڅنګ پانګوال نظام ته نړیوال اهمیت او کردار بخښل هم دوام لري.

دډیرو لویو لویو پانګوالو کمېدل چې زیاتره طبقه یې نوی مالک او اختیار لري دجبر، شکنجې، غلامۍ، تذلیل او استحصال لامل ګرځي. نو ددې ترڅنګ دکارګرې طبقې په کمیت کې هم اضافه کیږي. منظم او یواځې کیدلو لپاره هڅې کوي چې علت یې دپانګوال نظام تولیدي میکانیزم دی. دسرمایې واک او دتولید تر څنګ پخپله دغه پرمختګ ددوی په لاره کې خنډ ګرځي. دذریعي تولید راغونډول او د زیار ټولنیز رول آخر یوداسې ځای ته ورسیږي چې چېرته دپانګوال شخصي شتمنیو مرګ ضرور وي . هغه خلک چې خلک بي دخله کوي په خپله بي دخله کړای شي.

پوښتنه - ګلوبلویزایشن څه ته وایې ؟

ځواب-
ګلوبلایزیشن هغه اقتصادي ترون دی چې په ترځ کې یې نړیوال اقتصاد رامنځته شوی دی. چې له امله یې ډیر ولسي اقتصادونه دنورو اقتصادي معیشتونو ته اړباسل کیږي. چې پدې ډول هیڅ یو هیواد پخپل ځان بسیا او خپلواکه ندي. ځکه چې هر یو دبسیا کیدلو لپاره تبادلې ته اړ دي. یو پلان شوی نړیوال اقتصاد پخپله بد ندی ځکه چې دا دپلان شوي اقتصاد لپاره پرمختګ بخښي. خو دا دیو داسې نظام په واسطه ترسره کیدلای شي چې بنسټ یې ټولنیز عدل اود ذریعي تولید(فابریکې،تیکنالوژي، سرمایه) پر اجتماعي ملکېت باندې وي او کولای شي چې دبشریت د ودې باعث وګرځي.

خو پانګوال نظام پر شخصي شتمنیو او انفرادي پانګوال نظام په فکر ولاړ وي. او دافکر کوي چې څنګه زیاته ګټه ترلاسه کړي دغه ډول فکر دپرمختګ پر لاره یوه ستره ننګونه ګڼل کیږي او داسې چاپېریال ته لاره هواروي چې په هغې کې ډیر کم خلک دبې حسابه دولت او شتمنیو خاوندان وي او نور دټولنې اکثره طبقه یې ورځ په ورځ دغربت ښکار کیږي. په غریبې او غیر مساوي او ناانډولیز ځوی کې ورځ په ورځ اضافه والی راځي.

پوښتنه – په لوږه او غیرمساویانه وېش کې د ورځ په تېریدو ولې زیاتوالی رامنځته کیږي؟

ځواب-

اوس مهال دځمکې پر سر څه دپاسه اوه میلیارده خلک ژوند کوي چې د یو میلیارد خلکو لپاره دژوند اسانتیاوې مساعدیدلای شي. خو په لوږه او بې چارګۍ کې ورځ په ورځ اضافه والی راځي. څه دپاسه یومیلیارد خلک دخوراک دکمښت سره مخامخ دي او درې میلیارده خلک دلوږې د لیکې څخه لاندې ژوند کوي. دمایکروسافټ کمپني ددریو لوړو چارواکو سره دومره دولت موجود وو چې هغه دامریکې دهغه بودیجې څخه هم زیات دی چې لوږې دله منځه وړلو په موخه په پام کې نیول شوی. دمختلفو اقتصادي بازارونو ترمنځ دشیانو تبادله په منصفانه توګه نه ترسره کیږي. دیو لاس برابرې مختلفې ملکي یا نیشنل کمپنیانې دواک او قدرت خاوندانې دي چې دټولې نړۍ ۴۰ سلمه دولت او د تجارت په ۷۵ سلمه وسایلو قابض دی او دوی په نړۍ کې دخپلو ګټو پوره کولو په خاطر خپل شرطونه عملي کوي. دنړیوال اقتصاد له وېش څخه لویو هیوادونو ته برابره ګټه نه رسیږي.

خو دومره کیږي چې کم پرمختللي هیوادونه خپل اومه مواد لکه تېل، کانونه، کرنیز اجناس په پرمختللو هیوادونو په ډیر کم زیار او قیمت سره خرڅوي. چې له امله یې ددې پر ځای چې ناانډولتوب له منځه ولاړ شي نور هم زیاتیږي. خوار هیوادونه د داسې تولیدي شیانو خرڅولو لپاره مجبوریږي چې تیارول یې خورا ډیر زیار ته اړتیا لري. غریب هیوادونه دتخنیکي کمزورتیا له امله داسې شیان له لویو ځواکونو او پرمختللو هیوادونو څخه اخلي چې دوي یې دجوړولو توان نلري نو بیا دغه شیان دوی ته په لوړقیمت پرېوځي. خو دغه شیان تیارول ډیر اسانه کار دی. ښکاره خبره ده چې پدې ډول کار کې څوک ګټې ترلاسه کوي او څوک تاوان. ددې هر څه ترڅنګ مونږ ویلای شو چې نړیوال اقتصاد دلویو غربي ځواکونو اوملټي نیشنل کمپنیو تر پنجو لاندې دي. او دوی کولای شي چې دخپلې خوښې قیمتونه، تجاراتي قوانین او اقتصادي اصول پر نورو تحمیل او مسلط کړي. دبیلګې په توګه په ۱۹۶۰ ز کال کې دبنرایه د یوې امریکي ټریکټر اخیستلو لپاره ۲۰۰ دکوفي بورۍ ورکولې، خو دا قیمت وروسته د یو امریکایي ټریکټر په بدیل کې په ۱۹۹۰ زکال کې ۶۰۰ بورۍ ته ورسیدل.

پوښتنه – ملټي نیشنل کمپني ولې دومره ځواکمنې دي؟

ځواب-
په ټوله نړۍ کې دملټي نیشنل کمپنیو نمو او پرمختګ دپانګوال نظام د تکامل پایله ده، چې زیاتره یې دانفرادي ګټو پر سر ولاړ دي. ددغه ګټې دلاسته راوړلو لپاره پانګوال پخپل منځ کې سیالي کوي. دوي خپل تولید، پلورل زیاتوي او دخپل تجارت لپاره نوي بازارونه ګوري. دموجوده بازارونو استحصال، ارزانه زیار او د ارزانه اومه موادو په خاطر په نورو هیوادونو کې سرمایه ګذاري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي ټولو لاملونو له امله دولت ديوځو خلکو په منځ کې راغونډ شوه. دا پدې مانا چې دولت د لويو پرمختللوهيوادونو ديوځو لويو شرکتونو په لاس کې دي. چې دنړۍ په زياتره شتمنيو يې کنټرول او برلاسي دي. کله چې دغه شرکتونه په معاشي توګه خپل شرايط تطبيق نه کړلای شي نوبيا دوی داستعماري هيوادونو سياسي اونظامي برخې دخپلو ګټو په خاطر استعمالوي. دوی تل دخپلو ګټو لپاره دبشريت شُعار ورکړی دي. مونږ د دې شاهدان يو چې نوي استعماري قوتونه پر يوګوسلاويه، افغانستان او عراق باندي بمباري د بشري حقوقو ژغورلو په خاطر کړېده. چې فقط دخپلو ګټو د لاس ته راوړلو لپاره يوه بهانه ده. دګلوبلايزيشن نظام دنيمګړتيا پټولو لپاره دپردې تر شا کار کوي. موجوده پانګوال نظام مونږ داسي تشريح کولای شوچې دوی په نړېواله سويه دعامې طبقې زيار باسوونکو استحصال او د نړۍ دهيوادونو ديوځوځواکونو او ملټي نيشنل کمپنيانو له لاسه استحصال شويدي. مانا ښکيلاک دی او دا پانګوال نظام دي.

پوښتنه - ايا دا مُمکنه ده چې پرته د پانګوال نظام خلاف جنګيدلودنړېوال مالي فنډ او نړېوال بانک خلاف وجنګيږو؟

ځواب-
دناانډوله شيانو تبادله چې غريب هيوادونه يې دغُربت اولوېږ کندې ته وراچولي دي. غريب هيوادونه اړ دي، چې ددوي څخه قرضه واخلي چې په پايله کې يې په بشپړه توګه غلام شي. دقرضونو له امله دوي دنړېوالو ادارو اقتصادي پلانُونه او نړېوالو اړيکو دجريان په خاطر دوي دې ته اړ اېستل کيږي چې ټولې خبرې ومني. نړېوال مالياتي فنډ، نړېوال بانک او نړېوال تجاراتي سازمان دپانګوال نظام دپياوړتيا باعث ګرځي. له دې ځواکونو او ملټي نيشنل کمپنيانو دوی ته امکانات او پيسې ورکوي چې دوی مستقيما ددوی دتګلارو دجوړولو او واک کې برابر شريک خاوندان دي.

ددې ادارو اصلاح او جمهوري کول ناممکنه خبره ده، ځکه چې که د دغې ملټي نيشنل کمپنيانو لپاره دوی ګټور کارونه او اړتياوې پوره نکړي نو بيا ملټي نيشنل کمپنيانې پر دوي باندي امکانات او پيسي بندوي او پرځاي يې نوي اداري رامنځته کوي. دملټي نيشنل د ځواک بنسټ په پيدواري ذريعو باندي کنټرول او د دوي خپلول دي مانا داچې دمشينرۍ، فابريکو، ځمکو او سرمايې خپلول دي. ترڅو چې دغه منصب خواران بې واکه شوي نه وي او دولت دخلکو جمهوري کنټرول کې نه وي راغلی نو دغه اوضاع نه اصلاح کيږي اونه ګټه تري اخيستلای شي.

پوښتنه - په سټايل، پراګ، لندن، پيرس، سپين، يونان او وينس کې د لاريونونو عوامل څه وو؟

ځواب-
نړېوال مالياتي فنډ او نړېوال بانک لخوا چې ځينو هيوادونو ته تش په نامه مرسته ورکول کيږي او په ترڅ کې يې تګلارې جوړيږي. دغه ټول هغه څه دي چې دنړۍ ډير پانګوال يې دخپلو شتمنيو دزياتولو لپاره کوي. داپدې مانا چې د دولت لخوا هغه وسايل چې عادي خلکو ته ورکول کيږي وسايل نه، بلکی د روغتيا پر اسانتياوو بريد، په معاشونو کې کمی، معاشونه کمول، اضافې بونس نه ورکول، او په نورو داسي ډيرو شيانو کې کمی دکارګرو په قوانينو کې نه اصلاح او ولسي فابريکې شخصي کول شامل دي. په غريبو هيوادونو کې پدې ډول تګلارو باندې لا ډيرکار روان دی اوترڅنګ يې دملټي نيشنل کمپنيانو په واسطه د دغه قُدرتي وسايلو لُوټ چُور هم شروع دي.

چې له امله يې دغريبې او شتمنې طبقې تر منځ توپير زياتيږي. په لوږه کې زياتوالی او چاپيريال دبربادي سره مخامخ کوي. دا لاريونونه چې پيل يې دسټايل نه شوی وو اوس مهال په هر هغه ښار کې ترسترګو کيږي چېرته چې دمالياتي فنډ، نړېوال بانک او د نورو نړېوالو مالي ادارو غونډې ترسره کيږي. دا په ريښتيا دځوانانو اوزيارايستونکو د يووالي او ددوی دنړېوالتوب يووالي اشارې دي.

پوښتنه - آيا ديوې جلا ټولنې جوړښت مُمکن دی؟

ځواب-
په ټوله نړۍ کې دمالياتي بوديجې ادارې او نور داسې استعماري سازمانونو پرخلاف کېدونکي لاريونونه ددوی دتګلارو نړېوال مخالفت څرګندوي. خو مونږ دغه ټول ناانډولتوب له منځه وړل غواړو. نو بيا اړتيا ده چې په نړېواله توګه يو منظم خوځښت منظم کړل شي. چې پدې کې دکارګر خوځښت او د دې ترڅنګ ټول انقلابي بدلون دي.
دا خوځښت ديوملټي نيشنل کمپني او يا دبلې کومې غټې ادارې د له منځه وړلو تره حده نه دي پکار، زمونږ زيار بايد دپانګوال نظام له منځه وړلو پورې وي. بانکونه او لويې مالي کمپنيانې بايد په ولسي تحويل کې واخيستل شي. دملټي نيشنل کمپنيانو جمع کړای شوی دولت او شتمني بايد په نړېوال اقتصاد تايېد او دهغه له لوري استعمال کړی شي. او هم دخلکو دجمهوري کنټرول لاندې په سمه توګه داکثريت طبقې د ګټې لپاره استعمال کړای شي. يو سوسيالسټ انقلاب يواځينی بديل دي. دغه فقط مُمکن نه، اړتيا ده. دغه ډول انقلاب او بدلون ديوې لوې کارګري طبقې په نمايندګۍ کې ديو منظم خوځښت لخواء ممکن دی پدې خوځښت کې بايد دټولنې هغه خلک هم واوسي کوم چې دپانګوال نظام دجبر ښکاردي.

پوښتنه - دخلکو د دغو خبرو څخه څه مانا اخيستی شوو، چې وايې هغه سوسيالسټ دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب-
دمارکس داصطلاح پر بنسټ سوسیالیزم دپانګوال نظام او کمیونزم تر منځ دیو عبوري دور په توګه فکر کیږي. یو داسې نظام ته لاس رسی منو چېرته چې په ریښتني ډول دیو چاڅخه دهغه داستعداد مطابق او هر چاته دهغه داړتیا مطابق ورکولو خپلوي منځته ته راځي. د دې لپاره ریښتنی بازار دمتبادل په توګه سوسیالسټ هم ویل کیږي. خو شرط دادی چې ددوي مقصد دپانګوال نظام له منځه وړل وي او په ریښتني توګه دکارګرانو دجمهوري سوسیالیزم راوستل یې هدف وي.

پوښتنه -آیا داممکنه ده چې دپانګوال نظام پر ضد جنګ پرته دیوي اداري یا شخص خلاف جنګ کیدلای شي؟

ځواب-
په ناانډولیز نظام کې چې غریب کارګر په کې دغُربت اولوړي شپې تیروي او په ډیرو ستونزو کې راګیر وي دلویو ځواکونو د ادارو لطرفه قرض دار، همدا لامل دی چې همیشه غلام پاتې شوی دي. دخپلې نامساعدې وضعې له امله ددغو ادارو لطرفه ورکړل شوی پلان او قوانین پر ځان منلو ته اړشوی او دغه ټولې ادارې دپانګوال نظام دپیاوړتیا باعث ګرځي. دنوموړو ادارو اصلاح او جمهوري کول ممکنه نه بریښي، که چیرې دغه ادارې لویو ځواکونو ته ګټورې ثابتې نشي نو پر ځای یې نوې ادارې رامنځته کوي او دوی له منځه وړي.

پوښتنه - انقلاب څه ته وایي ؟

ځواب-
دنورو تاریخونو ترڅنګ دانقلابي تاریخ په اړه هم باید داوویل شي چې څه وشول؟ او څنګه وشول؟ خو دغه به یوه نیمګړې خبره وي. دبیان څخه باید دغه معلوم شي چې دا څه وشول؟ څه بل شانته ولې وشول؟ دا داسې ولې نه کیږي؟ پیښې ته خو نه دکمپاین یوه برخه ویلي شو او نه دغه دمخکې څخه پلان کړل شوی پلان- دوی باید دخپلو قوانینو تابع وي.
دخلکو په تاریخي پیښو کې ونډه دانقلاب یو داسې ځانګړتیا ده، چې په اړه یې شک نشي کیدلاي. په عادي حالت کې دولت ځان د ولس څخه لوړ ګڼي. هغه که چیرې جمهوري یا دیکتاتور دولت وي. او تاریخ هم داسې کارپوهانو جوړولو کې مرسته کوي لکه بادشاه، وزیران، بیوروکریټ او دپارلمان وکېلان .

خو کله چې هغه وروستۍ شپې راورسیږي چې په خلکو کې دموجوده نظام پر خلاف زغم مخ په خلاصیدوشي. نو زوړ نظام او د دې چلونکي دسیاسي نظام څخه په زوره بیا ابسټل کیږي. او ټول روایاتي نماینده ګان یو طرف ته او یو نوي نظام ته لاره هواروي. دپایلي مثبت والی او منفي والی او د دې تشریح به اخلاق پرستو ته پریږدو. تر کومه حده پورې چې زمونږ خبره ده نومونږ به حقایق لټوو. څکه چې دتکامل عیني حالت مونږ ته دا بخښي. زمونږ په نظر دانقلاب تاریخ هغه دی چېرته چې خلک دخپل قسمت بدلولو لپاره بل تاریخي میدان ته ورو ورداخلیږي او لاس وهنه کوي.

پوښتنه - انقلابي ګوند څه ته وایي ؟

ځواب-
یو ګوند فقط تنظیمي مساحت، یو نوم، یو بیرغ دخلکو راوغونډول او مشینونو نه وي. دیو مارکسسټ لپاره ګوند، یو نوم، یوه برنامه ، دکار طریقه، فکرونه او روایتونه موجود وي. اوبیا چېرته چې په لوي شمېر کې ګوندونه او یا مشینرئ مانا ورکوي. نو پرته له کوم شکه دا هم اړینه ده چې دغه نظریې او مفکورې دکارګرو غوړونو ته ور رسول پکار دي او دا هم یوه لاره او ګوند ته اړتیالري. د مارکسسټی ګوند لپاره اړینه ده چې له پیل څخه خپله نظریه او د برنامې بنسټ پیاوړی کړي.

چې دغه په خپله د کارګرې طبقې د ټولنیزې تاریخي تجربی پایله وي. له دې پرته دوی هیڅ نه وي، د انقلابي ګوند جوړښت تل د اتلانو د راغونډولو، د دوی د روزنې او تعلیم په صورت کې کیدلای شي. چې دغه د ګوند په ټول ژوند او مبارزه کې ملي رول پلی کوي. دغه د مسالې لومړۍ برخه ده، خو فقط لومړۍ برخه. دویمه برخه ډیره کړکېچنه ده، هغه دا چې د کارګرې طبقې زیاتو ملګرو ته څنګه خپل مرام او تصّورات ورسولای شې.

پوښتنه - د انقلابی ګوند اړتیاولې پیښیږي؟

ځواب-

د یو مارکسسټي نظر دا مسولیت دی چې د کارګرې طبقې خوځښت ته د تجربې د عُمومی اُصولو پر بنسټ رنګ ورکړي، چې وکولای شی، د کارګرې طبقې ټولنیز یاداشت وګرځي. د خوځښت په داخل کې زمونږ ځانګړې رول او وجود، د دې خبرې جواز ګرځیدلای شي. که کارګره طبقه غواړي چې ټولنې ته بدلون ورکړي نو بیا د یو داسې ګوند چې یادونه مو یې کړې ده، جوړښت ډیر اړین دي. انقلابي چانسونه د یو ټاکلي وخت پورې نه وي. که کارګره طبقه وغواړي چې انقلاب په راوړلو کې بریا ومومي، نو بیا واکمنه طبقه د خپل دفاع په خاطر ډیر ژر د کارګرو دغه خوځښت تر پښو لاندې کوي. له بده مرغه د کارګرو طبقې پر واک د قبضه کولو زیارونو د تاریخ له داسې پیښو ډک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګې په توګه په چیلی کې ۱۹۷۲-۷۳ دوران کې د یو انقلابي ګوند وجود په یو ورځ کې ندی تشکیل شوي. هم دغه تاریخ مونږ په ۱۹۶۸-۶۹ کې په پاکستان کې کتلی شو. دغه باید په شعُوري توګه تشکیل کړای شي. او دغه جوړښت په نړیواله سویه موجود د کارګري طبقې په زیار او د له مخې موجودو ګوندونواو په ټولو کې د لاسوهنې له لارې پکار دي. د انقلابي ګوند او مشرۍ شتون د طبقاتي مبارزې په پایله کې داسې اغیزمن ثابتیږی لکه چې د قامونو په جنګونو کې د پوځ او ستر ځواک معیار، کردار او ورستنۍ اغیزمن ګڼل کیږي. څرنګه چې په جنګ کې په ناځاپه توګه ستر درستیزوالان جنګ ته نه ودرانګي هم داسې د یو انقلابی ګوند جوړښت هم ناځاپه نشي کیدلاي. دغه باید تر کلونو او لسیزو پورې په سمه منظمه توګه تعمیر کړای شي.

ټول تاریخ او بیا په تېره د شلمې پیړۍ تاریخ مونږ ته هم دغه راښایی. د کارګرې طبقې شهیده او لوړه انقلابی مشره روزالکسمبرګ تل په دا خبره زور راوړی چې خلکو! انقلابي خوځښت د انقلاب لاره ده. نو د نوموړې خبره بیخي سمه ده. د انقلاب په دوران کې خلک ډیر ژر زده کړه کوي. ولې چې هغه انقلابي کیفیت وي، هم دا ډول چې دا تر ډیره وخته پورې پر ځای نشي ټینګیدلی. ټولنه هم په دوام داره توګه د پاڅون په شکل کې نشي ساتل کیدای، نه خو د تجرباتو تر لاسه کولو لپاره دومره وخت وي، او نه کارګره طبقه دومره وخت لري چې په مزو مزو د چاپیریال څخه زده کړه وکړي. کله چې د ژوند او مرګ مساله وي نو د نیمګړتیاوو ډیر لوی قیمت ورکول په مونږلازم شي.

لحاظه د دغه خبرې اړتیا ده چې د خلکو پر خوښه خوځښت له ګوند، برنامې، وړاندې اوضاع، تګلارې سره، مانا د انقلابی ګوند سره ونښلوو. باید د دغه کنټرول د یو منظمې مشرۍ په لاس کې وي. پانګوال نظام به په خپله له منځه نه ځي، د دغه نظام هر بُحران به مونږ ته بیلا بیل مشکلات راوړي. فقط په نړیواله توګه د کارګرې طبقې شعُوری زیار او د انقلابي مشرۍ جوړښت کولای شي، چې د پانګوال نظام په تابوت کې وروستنی میخ وټومبي.

هم دا علت دی چې پرته له کومه شکه مونږ ته د بغاوت اړتیا نشته، خو د کارګرې طبقې مطلب د ټولنې د ډیرکیو طبقې شعُوري خوځښت ته اړتیا تر سترګو کیږي. مونږ ټول توپیر لرو، او دغه هیله باید ونلرو چې په یو شپه کې به ټول خلک په خپله یو پایلې ته ورسیږی، اوپه سبا کیدلو به ټول په ګډه انقلاب رامنځته کړو. مونږ ټول په مختلفو وختونو کې له مختلفو پېښو زده کړه کوو. د انقلابي فکر شتون په دې خاطر اړین دی چې د ټولو خلکو په راغونډولو دوی ته د ټولنې د بدلولو مسولیت ور په غاړه کړای شو.

پوښتنه – **کمونیستې مینی فیستو (مرام نامه) د سیاسي مبارزې کولو لپاره کوم بنسټیزه مارکسستې أصول وړاندې کړي وو؟**

ځواب-

کمونستان(خلکیان) د جدي موخو په خاطر د کارګري طبقې د جدي ګټو لاس ته راوړلو لپاره مبارزه کوي. خو هغه خوځښت چې په جریان کې وي، مارکسستان راتلونکي خوځښت ته پاملرنه کوي، او د هغه مشري په غاړه اخلي. خلکیان د بلې کومې کارګري طبقې ګوند پر ضد کوم جلا ګوند نه جوړوي. او د کارګري طبقې د مفاد پرته بل کوم مفاد نلری. دوی بیل کوم داسې اصول ځان ته نه غوره کوي چې د ترقۍ باعث کیږی، چې له دې دوی وکولای شي چې کارګره طبقه پې کوم خاص صورت کې وړاندی کړای شي، یا په بله کومه اوضاع کې یې وساتي.

خلکیان له نورو کارګرو ګوندونو څخه دومره توپیر لري، چې لومړی د مختلفو کارګرو په ملکي زیار کې دوی پرته له کوم ملکي توپیره د کارګر طبقې ګډ مفاد په راوړولو زور راوړي، او له دې دوی د کارګرو ګټې روښانه کوي.

دویم دا چې د پانګوال طبقې پر ضد چې د کارګري طبقې زیار له کومو روزنیزو پړاونو څخه تیریږی، په هغه کې خلکیان په هر ځای او تل د ټولنیز حیثیت په څیر د ټول خوځښت نمایندګي کوي.

د کمیونسټانو هدفونه د نورو کارګرو ګوندنو څخه جلا نه دي، مطلب د دوی هدف د کارګري طبقې یووالې او منظم کیدل دي. باید د پانګوالې طبقې زور له منځه یوړل شي، او کارګره طبقه واک ته ورسول شي. د کمیونزم یواځینی هدف د شخصي شتمنو له منځه وړل ندی، بلکې د پانګوال نظام شتمني له منځه وړل دي. او دا باید یاد وساتل شي چې د کارګرانو هیڅ وطن نه وي، او چې کله دوی هیڅ نلری نو څوک به څه له دوی څخه په زور واخلي.

پوښتنه- د سوسیالیزم د حتمي کیدولو په اړه د مارکس څه نظر وه؟

ځواب-

مارکس چې د پانګوالې ټولنې په سوسیالسټې ټولنې کې د بدلیدولوکومه پایله وړاندې کوي. هغه د موجوده وخت د ټولنیز تکامل د اقتصادي قانون لاندې تر سره کیږی. د مارکس د مړینې وروسته په پنځوسو کلونو کې د زیار ټولنیز صورت په ډیر ګڼدوالی سره پرمختګ کړی دی، او د زرګونو صورتونوپه خپلولو خپله څرګندونه ډیره روښانه کړې ده. لویو تولیداتو کې اضافه، کارګر خوځښتونه او سازمانونو تر څنګ د مالیاتی سرمایې قوت او پراخوالی کې چې کومه بې شمیره اضافه رامنځته شوې ده، د سوسیالسټې ټولنې د عملي کیدلو جواز دي. د دغه بدلون فکري او اخلاقي قوت ډیر خوځون، او دغه ته عملي بڼه کارګره طبقه، چې روزنه یې په خپله پانګوال نظام تر سره کړې ده، د بدلون ذریعه کیدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پانګوالۍ طبقې پر ضد د کارګرې طبقې مبارزه مختلف صورتونه لري. د دغه پيل له اقتصادي زيار څخه کيږي، او بلآخره په سياسي صورت بدليږي. چې هدف يې سياسي واک د کارګرې طبقې بريا ده. چې کله توليدات ټولنيز صورت خپل کړي نو بيا توليداتي ذرايع په لازمه توګه د ټولنې شتمني وګرځي. مطلب هغه خلک چې خلک له کاره شړي، په خپله وشړل شي. له دې بدلون وروسته به په سمدستي توګه د کارګرانو په توليداتي قوت کې ډير زياتوالی راشي. د کار وختونه به ځای ته راشي. او د ورکوټيو صنعتونو د وروسته پاتې او خوره وره توليداتو ځای به ټولنيز او ښه زيار ونيسي. پانګوال د صنعت او د کرنی ترمنځ تړاو ريبي. سوسياليزم چې ډير پرمخ تللی نظام دی، د دغه ډول تړون د تړولو لپاره به له سره بعضې نوي عناصر تشکيلوي. د صنعت او کرنی ترمنځ د ټولنيز زيار په يو ځای کولو او د ساينسي شعُوري تطبيق په ترځ کې دغه يووالی رامنځته کيږي. او د دې تر څنګ له سره بشري نفوس تجزيه کيږی. هم دا رنګه د کليوال وروسته پاتی والی، ځانګړيتوب او بربريت تر څنګ په لويو ښارونو کې د خلکو په غير فطري توګه راغونډ شوی ټولنغونډ به هم له منځه يوړل شي.

اوسنی پانګوال نظام د لوړو صورتونو يو نوی کورنی نظام، د ښځو لوړوالی، او د نوی نسل د روزنې په اړه نوي حالات وزيږول. په عصرې ټولنه کې د پانګوال نظام له لوري د ماشومانو او ښځو د زيار استحصال او د کورني نظام حتمي ګډوډي، انتهايی ويرونکې، د تباهی ورې او ناوړه صورتونه خپلوي. خو د معصر صنعتي توليد د ټولنيز انداز په ترځ کې او د يو منظم عمل له چوکاټه د باندې د ښځو، ځوانانو او د دواړو جنسونو سره تړاو لرونکي، بچيانو ته يو اړين کردار سپاري چې له دې لارې د جنسونو د تړاو او د کورنی يو لوړ صورت يو نوي اقتصادي بنسټ حتما ورکوي.

ښکاره خبره ده چې د کورنی عيسايي بيوټونک هيت(ظاهری صورت) حتمي او کامل خيال کول يو بې چوکاټه خبره ده. ټول پخواني رُومي، يونايي يا شرقی هيتونه(صورتونه)که په ټولنيزه توګه وکتلی شي، نو دغه دتاريخي تکامل کړی دي. له دې پرته دا خبره هم روښانه ده، چې په حقيقت کې په ټولنيزه توګه زيار اېستونکي ټول چې په دوه جنسونو او د هر ډول عمر خلکو څخه وي، په مناسب حالاتو کې په لازمه توګه د بشري پرمختګ سر چينه وګرځي. او دا چې په خود ژو او وحشيانه پانګوال صُورت کې چې چېرته يو کارګر د توليداتو د کړنې له امله ژوندی وي، او دا نه چې توليداتي کړنه د کارګر لپاره وي. دا حقيقت د اداري فساد او غلامو مريضيو سرچينه وګرځي.

پوښتنه- د تاريخ مادي تصور څه دی؟(د لينن وضاحت)

ځواب-

پخوانی ماده پرستي نامکمله، غير مستقل مزاجه او يو طرفه ده. او د دغه ټولنې ساينس د مادي بنسټونو سره نښلولو او بيا د دغه پر بنسټ د ساينس له نوي سره تشکيل کولو ته اړتيا ده. او دا چې د ماده پرستی له نظره شعُور د ذات يا شخصيت څرګندونه ګڼل کيږی، دا نه چې له دې هم چپا.

هم دا رنګه چې کله مونږ د ماده پرستی نظر تطبيق د انسانانو پر ټولنيز ژوند کوو، نو بيا دا خبره مخې ته راځي، چې ټولنيز شعُور د ټولنيزې هستی پيل يا څرګندونه ده. بشر د فطرت سره څنګه لاس او ګريوان دي؟ مطلب د توليداتو هغه عمل چې له امله يې انسان خپل ژوند په ځای ساتی او له دې دا خبره هم روښانه شي چې نوموړې د توليداتي اړيکو تشکيل څرنګه رامنځته کيږي. او د دغه په ترځ کې څه رنګه ذهني تصّورات او مفکُورې رامنځته کيږي. بشری ټولنه او دغه پر تاريخ د مادي نظر د بنسټيز اصولو تطبيق ډير په بشپړه توګه داسې وړاندې شوی دي.

د خپل ژوند د ټولنيزو توليداتو په ترځ کې خلک له يو بل سره په داسې خپلويو کې وتړل شي چې کوم د حتمي تر څنګ د دوی د هيلو د طبعيت پر ضد هم وي. مطلب هغه توليداتی ريښې چې کومې د مادي توليداتي ځواکونو د ودې د مخصوصې کچې سره سمون خوري.

د ټولنې اقتصادی جوړښت هم د دغه توليداتي ريښو په ترځ کې منځ ته راځی. هم دغه هغه ريښتنی بنسټ دی، چې پر دغه يو قانوني او بهرنی سياسي جوړښت ولاړ وي. او د ټولنيز شعُور مخصوص صورتونه هم دغه سره سمون خوري. د مادي ژوند توليداتي طريقه د ټولنيز، سياسي او د فکري ژوند د عمل تعين کوي.

د تاريخ مادي تصّور د کشف کولو له امله يا که په وضاحت سره وويلی شي، چې د ماديت (فلسفيانه ماديت) د ټولنيزو څرګندونې د مرکزيت پورې پرله پسې پراخوالی د دې باعث شو، چې په مخکې تاريخ کې موجود وه. او د دوه لويو نظرياتي نمګړتياو د له منځه وړلو باعث شو. لومړی دا چې هغوی ډير نه ډير فقط د بشري تاريخ د کړونو د نظرياتي هڅو څيړنه کوله. خو د دغه هڅو د بنسټونو هيڅ ډول څېړنه به نه کېدله. او نه به د ټولنيزو ريښو د تکامل په نظام کې پټو يا بربنډو قوانينو تعين کېده، او نه دوی دغه خبره مخې ته کېدله چې د دغو ريښو کړه وړو په دغه امر دي. چې آيا د توليداتي پرمختګ سويه تر کوم لېوله پورې ده؟

دويم دا چې دغه ډول تيوري د نفوس د ډېرکيو خلکو د کړو وړو نمايندګي نه کوي. او حال دا چې په لومړی ځل د تاريخي ماديت له لارې د خلکو د ټولنيزو حالتو او په دغه کې د بدلون ساينسي او دقيقه مطالعه په لومړی ځل ممکنه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مارکسیزم څخه مخکې ټولنپوهنه او تاریخ پوهنه له ایخوا دیخوا څخه را غونډه کړای شوې ده. دا د نیمګړو حقایقو راغونډول وو، او د تاریخي کړنې او د انفرادی اړخونو منظر کښی. پرته هیڅ نه وو، د مختلفو اړخونو په ټولنیزه توګه جایزه اخستلو وروسته دغه د تاریخي کړنې په انفرادي اړخونو کې روان عمل سره د مختلفو طبقو د تولید او د ژوند د اوضاعي په اهمو سمو تعریفونو کې ګډل کیږی.

هم دغه غالب تصّور یا د دغه د تشریح د انتخاب د جایزې وروسته له دې حقیقت څخه پرده اوچته کړه، چې ټول تصّورات، مفکُورې او مختلف صورتونه د تولید د مادي ځواکونو د پیښو څخه رازیږیږي. داسې مارکسیزم د ټولنې او د اقتصادي نظامونو د زیږښت، عُروج او د زوال د کړنې پراخی مطالعې ته لاره هواره کړه.

خلک خپل تاریخ په خپله جوړوي، خو د خلکو مانا د خلکو د ډیرکیو طبقې د هڅونې او کړو تعین کوم شی کوی؟ مطلب د بشری ټولنو ترمنځ د روان ټکرونو پایله څه ده؟ د بشر د ټولو کړو بنسټ او د مادي ژوند د تولید ښکاره حالات او شرایط څه وو؟ د دغه حالاتو د تکامل قانون څه ده؟ مارکس دغه ټولو خبرو ته په پاملرنې سره د تاریخ ساینسي مطالعې ته لاره هواره کړه، چې د دې له مخې د هر ډول تنوع او تضاداتو تر څنګ دغه یو عمل دی او د مخصوصو قوانینو تابع دي.

پوښتنه - د مارکسیزم د جدلیاتی فلسفې تشریح؟

ځواب-

جدلیات(ډایلیکټېسیزم) خو نه خیال دی او نه تصّوف، که دغه د ژوند عادي مسایلو پورې محدود نه کړای شي نو دغه یو ساینس دی، چې دا له دی کړکیچن او اوږد محاله اعمالو پوهې ته په لاس راسي کیدلای شي. د جدلیاتو او رسمي منطق ترمنځ هم هغه تړاو دی کوم چې د لاندنیو او بهرنیو ریاضیاتو ترمنځ وي.

د ارسطو د عامې قضیې منطق داسې پیل کیږی، چې الف مساوی دی د الف. دغه مفروضه د بی شمېره بشري اعمالو لپاره منل کیږی. خو په حقیقت کې الف د الف مساوی نه دي. که دا دواړه ټکي د محدث شیشې لاندې کیښودل شي، نو دغه پورته خبره به په اسانۍ سره مغزو ته ولویږي. دغه د یو بل څخه توپیر لري. خو دغه انتقاد کیدلی شې چې دغه فقط دیو ډول مقدار استعداد دي. د بیلګې په توګه یو پونډ بوره په اصل کې یو پونډ نه وي. یوه لوړه پیمانه کولای شي چې دغه فرق روښانه کړي. دا خبره هم سمه ده چې ټول شیان پرته له کوم داخلې خپل حُجم، وزن او رنګ بدلوي. چې دا په خپل ذات کې برابر یا مساوي نه وي. یو سوفسطایي ویلي دي، چې په یوه خاص شیبه کې یو پونډ بوره د یو پونډ وزن مساوي یا برابره وي.

که دغه پیچلې او د شکمنې قضیې عملیې قدر له سترګو وغورځول شي، نو بیا به هم دغه نظریاتي کره کتنه تحمل نکړي شی یا ونه منل شي. مثلا مونږ یو ټکی شیبه په څه ډول په حقیقی توګه تصّور ته راوړی شو. دا که د وخت یوه اوږده مُوده وی نو بیا په دغه مُوده کې هغه شیبه خالصتا د ریاضی تجرید/جلولي دي. مطلب د وخت صفر. خو هر شی د وخت په داخل کې یا چوکاټ کې شتون لري. او شتون په خپله د بدلون د لاسوهنې پرته یو عمل دي. د پایلې په توګه هر وخت د موجودګۍ یو بنسټیزه عُنصر بدلون وي. (مطلب چېرته چې وخت وي او وخت په خپله یوماده ده! هلته موجودګي وي، اوموجودګي په خپله یو بدلون وي،ځکه چې دغه د کمیتي پېښو په ترڅ کې واړه واړه بدلونونه ښکاره کیږي، چې وروسته د پېښدلو په صورت کې لوی بدلون رامنځته شي. خو دغه د کمیتی پېښو په معیار باندې اړه لري، چې دا وړې پیښې څومره معیاري وي او څرنګه کولای شي چې کمیتي او کیفیتي بدلونونه دایم وساتي(د افغانستان ثور انقلاب څخه د کمیتي او کیفیتي بدلونونو ډیر ښه مثالونه اخیستی شو، چې وروسته د انقلاب ماتوونکو عناصرو ښکار شول)

له دې وروسته مونږ دغه پایلې ته ورسیدو چې د الف د الف برابرکیدلو مطلب دا دی چې یو جنس د خپل ځان برابر وي. شرط دا دی چې بدلون بیاونه مومی، خو کله چې یو شی بدلیږی نه، هغه موجود هم نه وی.

په لومړي پړاو کې دغه ژوري خبری بې ګټې ښکاري، خو که حقیقت ته لاړ شو نو دغه د ورستۍ پریکړې په څیر اهمیت لري. یو طرف ته د الف د الف سره برابریدلو قضیه زمونږ د ټولې پوهې څخه جلاکیدل دي. خو بل لوری ته هم دغه خبره زمونږ ټولې نیمګړتیاوې په ډاګه کوي. د کومې تېروتنې پرته مونږ الف برابر د الف قضیه کارولای شو، خو کله چې د یو څه حدودو په چوکاټ کې وی، نوکه چیرته د یو زبردست کار په دوران کې په الف کې کمیتی بدلونونه د نشت برابر وي، نو بیا مونږویلی شو چې الف د الف برابر دي.

د بیلګې په توګه په هم دغه طریقه د یو پونډ بوره خرڅونکي او اخیستونکي ترمنځ د راکړې ورکړې خبره جوړه کیږی، هم دغه ډول د سترګې د حرارت درجې هم ټاکلې کیږی. یو څه مُوده مخکې د ډالرو د اخیستنې دټاکلو قوت هم داسی کیدل. خو کمیتي بدلونونه بعضې وخت د چوکاټ څخه لرې په کیفیتي بدلونونو واوړي. کله چې یو پونډ بوره د اوبو یا تیلو سره یو شي، نو بیا دغه یو پونډ نه پاتی کیږي. او کله چې یو ډالر د یو جمهور ریس په جیب کې وي، نو هغه یو ډالر نه وي. په یو نازکه اوضاعه کې مقدار په معیار بدلیدلی شي. د دغه شیبې معلومول د ټولنپوهنې په شمول د نورو علومو څانګو ته ډیر اړین او کړکیچن کار دي. هر کارګر په دغه ښه پوهیږي، چې نوموړی دوه بیل شیان یو شانتې نشي جوړولای. څرنګه چې د پیتلو له سیخونو څخه د یو لږ څه بدلون وروسته تبر یا توره جوړیږي. خو دغه بدلون به تر یو حده پورې پکار وي. (دغې ته زغم یا تحمل ویلی کیږی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم دغه تحمل ته په کتلو سره فکر کيږي چې ټولې ثوري يا شمشيرونه يو شانتی دي. (مطلب الف د الف برابر دی) کله چې دغه تحمل زيات شی نومقدار په معيار کښی بدل شی، يا داسې ويلی شوچې تبر يا شمشير بې کاره شي.

زمونږ ساينسی فکر زمونږ د عادي عمل يوه برخه ده چې په دې کې تخنيک هم برخه لري. تر کومه چې د نظرياتو خبره ده نو د دغه لپاره هم د زغم اړتيا ده. چې دغه د الف برابر قضيې څخه نه رامنځته کيږي، خو د دې قضيې د جدلياتي منطق څخه زيږون مومي. مطلب هر شی هر وخت بدلون مومي. د عام عقل ښه خبره په دغه حقيقت کې پټه ده چې دغه په تدريجي ډول له تحمل څخه مخکې وځي.

پانګوالي، اخلاقيات، خپلواکي او د کارګر دولت تر څنګ يو داسې سپک خيال هم د تجريداتو/نه ويشولو په څير ترلی وي. مطلب پانګوالي د پانګوالي برابر وی، او اخلاقيات د اخلاقياتو برابر وي. خو جدلياتی فکر شيانو ته د دوی د بدلون په لرليد کې ګوري، او په مادي حالتو کې د هغه بدلونونه ټاکي چې له چوکاټه يې پورته، الف الف نه پاتی کيږي.((دلته د ليکوال مطلب دا دی چې الف کې واړه واړه بدلونونه ډير اړين دي، هم دغه يو حالت دی چې الف الف نه پريږدي خو دا هيله بايد ونشي چی دا بدلونونه به د چا په خوښه رامنځته کيږي،ځکه چې بدلونونه د ټولنې او يا د هغه شي فطرتي کړنې په ترڅ کې رامنځته کيږی، د بيلګی په توګه پانګوال نظام که هر څومره جبر، ظُلم، دورواغ يا بل څه چې د ټولني انفرادي يا اجتماعی فکر له منځه وړولو لپاره ترسره کوي، يو ورځ يا شيبه کيدلی شي چې ريښتيا سره مخامخ شي، نو دغه رښتيا که د بدلون په ډول اخلي، مطلب د کاميابۍ په لوري يا د ناکامۍ په لوري، خو دغه وخت به معياري وي)) هم داسې يو کارګر دولت، بيا دولت نه پاتی کيږي.

د يو نيمګړې خيال بنسټيزه نيمګړتيا دا ده چې دغه حقيقت بې حرکته ګڼي. حال دا دی چې حقيقت له ازله په حرکت باندی راروان دي.
جدلياتي فکر نظرياتو ته تر ممکن حده پورې سموالی، پراخوالی، زغم او د ښه والي مواد ښيي. خو يوه روښانتيا چې نظريات تر عملي ژوندە پورې نږدې کوي. دغه مقام د يو عام پانګوال نظام له امله په وجود کې نه راځی خوولې د پرمختګ د يو خاص مرحلی پانګوالي ، او عادي کارګر دولت نه، خوولې د يو استعماری هيواد تر شا او خوا په يو وروسته پاتی هيواد کې کارګر دولت.

د جدلياتی فکر د نيمګړتيا يا سپکوالي سره هم هغه خپلوي ده، کومه چې د روان انځور ددريدلي يا بی حرکته انځور سره وي. روان انځور د بې حرکته انځور پر ضد نه ولاړيږي، خو دحرکت د أصول په واسط بې حرکته انځورونه د يو تسلسل په ترڅ کې منظم کړي.(( که مونږ په ښکاره اوضاع يا سياسي حالاتو کې دغه جدلياتی بيلګه پر ځای کړو نو د عربو او اروپا ورستيو خوځښتونه چې معياری وو، خو د يو منظم کارګر يا سياسي ګوند د نه شتون له امله په شا وتمبولی شو، خوولې دغه بيا تکراری خبره ده چې واړه واړه بدلونونو وروسته د معياری بدلونونو په ترڅ کې وکولای شي، چې په راتلونکې کې نوي انقلاب ته لاره هواره کړي))

جدليات له رښتيا څخه انکاري نده، خوولې دغه ډير زيات رښتيا راسره داسی وګنډي چې مونږ هغه حقيقت چې د ازل راهسې د بدلون ښکار وي، ډير له نږدی څخه کتلای شو. هيګل په خپل يو کتاب(منطق) کې د قوانينو يوه سلسله رامنځته کوی، د بيلګې په توګه د مقدار په معيار کې بدليدل او هغه هم د تضاداتو په ترڅ کې مخ ته تلل.

د هيت(صورت) مواودېکر په تسلسل کې مداخله، د امکان په حتمي کيدلو کې بدليدل او نور ډير څه. د نظرياتی فکر لپاره دا هر څه دومره اړين دي لکه د قضيی لپاره چې لومړۍ کارونه وي.

هيګل د ډارون او مارکس څخه مخکې ليکلي وو، د فرانسه انقلاب چې فکر ته څومره پياوړتيا ښلی وه، د دغه له امله هيګل د ساينس د پرمختګ له مخې وړاندوينه کړې وه. بحرل دا د يو لوی انسان لويه وړاند وينه وه. خو هيګل صيب دې ته يو خيال پرستانه کردار او خوی ورکړ، نوموړي خيالی سيوری حتمي حقيقت وګرځول. خو مارکس په مقابل کې وويل چې دغه خيالی سيوري د مادي جسدونو د حرکت انځور دي. مونږ خپل دغه جدلياتی ماده پرست ؤايو چې د دغه سيورو جرړی نه په اسمان کې دي او نه زمونږ د خپلواکه خوښۍ لاندې دي. خوولې دغه په ښکاره حقيقت، مطلب په فطرت کې دي. شعُور له شعُور څخه زيږون اخلي. ارواح پوهنه له جسدي علم، عضوعی نړۍ له غير عضوعی نړۍ څخه، نظام شمسی د ستورو له غونډل يا وريځو څخه، د پرمختګ په هره پوړۍ د هر ګام مقداري بدلونونه په معيارونو کې بدليږی. زمونږ د فکر په شمول د جدلياتی فکر د بدليدونکې مادي مختلف رنګونه او صورتونه نه دي. په دغه نظام کې د شيطان، غير فانی ژوح، د قوانينو ورستني قدرونو او اخلاقياتو لپاره هيڅ ځای نشته. جدلياتی فکر د فطرت له جدلياتو پيدا کيږی. او دغه رول په بشپړه توګه مادي وي.

ډارونيزم چې د مختلفو درجو له مقدار څخه د معيار ته د ختلو وضاحت کوي. د ناميااتي مادې په نړۍ کې د جدلياتو لويه بريا ده.

دويم لوی کشف د کمياوي عناصرو د اتوم د اوزان ټيبل دي. او له دغه وروسته يو بل کشف د يو عُنصر په بل عُنصر کې د بدليدولو کشف کول دي. د هيت تر څنګ د درجه بندۍ پوښتنه هم له دې سره ډير نږدې تړاو لري. چې دا په خپله په ټولنيز او فطرتي ساينس کې يو شان مهم والی لري. په اتلسمه پيړۍ کې د سويډن د نباتاتو پوهنمل چې شيانو د نه بدليدولو کومه خبره کړې وه، په هغه کې د ونو او بوټيو د بهرنې خصوصياتو مطابق تشريح او درجه بندی شوي وه. د نباتاتو د علم هغه معصومانه زمانه د منطق د معصومتوب زمانې سره سمون خوري.

ځکه چې زمونږ فکر هم داسې پرمختګ کوې څرنګه چې دا نور شيان پرمختګ کوي. د نه بدليدولو خيال هغه وخت په حتمي توګه له ښخه وه ايستلای شو، کله چې د بوټو د تکامل د تاريخ مطالعه وکړای شوه. او داسې د يو حقيقي درجه بندۍ بنسټ کيښودلی شو. مارکس چې له ډارون څخه په واضحه توګه يو بيل قسمه باشعُوره جدليات پرست وه، او د بشري ټولنو ساينسي درجه بندۍ کشف يی د دوی د پيداواري ځواکونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخ کې رامنځته کړی وه. نوموړي د ټولنې د شتمنو په سر د اړیکو ساخت هم معلوم کړی وه، چې د ټولنې په سمه توګه څېړلو پورې اړه لري. د دولتونو او ټولنو نیمګړې درجه بندۍ ځای مارکسیزم ونیول. چې دا په خپله د جدلیاتي مادیت درجه بندي ده. د مارکسیزم طریقې خپلولو وروسته د کارګر د دولت د نظریې او د زوال ستني تعین کیدلی شي.

څرنګه چې مونږ ګورو چې دا به تباه کیدونکی جهالت او بی خبرې به یې د دغه تایید وکړي. په دغه کې هیڅ ځای مابعدالطبعیاتی یا عالمانه خبره ځای نلري.په نوي ساینسي فکر کې جدلیاتی منطق د حرکتي قوانینو څرګندونه کوي. بل لوري ته د جدلیاتی مادیت پرضد روان زیار د یو پخواني تیر شوی وخت، د منځنۍ پانګوالې طبقې تنګ نظري، د خپل ځان مطرح کونکو د پوهنتونو استادانو او له مرګ وروسته راتلونکې ژوند احساسات لرونکي څرګندونه یا ترجمانی کوي.

پوښتنه- طبقاتي مبارزه څه ته وایی؟

ځواب-

مونږ ټول پوهیږو چې په یوه ټولنه کې د بعضو خلکو موخې او کوښښونه د نورو خلکو د موخو او کوښښونو سره په ټکر کې وي. او دغه هم معلومه خبره ده چې ټولنیز ژوند د تضاداتو څخه ډک وي او دا چې تاریخ د ټولنو تر منځ او په داخل کې یوه مبارزه په ډاګه کوي. او دا پرته له انقلابه او انقلاب په شاتمبول، جنګ او سولې، جمود اوټندپرمختګ یا زوال پرله پسې په یو بل پسې ځي راځي.

مارکسسیزم په دغه سلسله کې د طبقاتي مبارزی نظریه وړاندی کوي. په ظاهره چې کوم انتشار او نېمګړتیاوې تر سترګو کیږی، په هغه باندې عملي کیدونکی قوانین کشف کوي. د کوم یو یا ډیرو ټولنو وګړیو ټولنیز زیارونو د مطالعې له امله زمونږ لارښونه د دغه زیارونو پایلو ته ساینسی لرلید په صورت کې کیدلای شي. او دغه متصادم زیارونه د دغه طبقو د ژوندانه طریقو او د حقیقت له توپیره زیږون مومويي. چې دې کې هره یوه ټولنه تجربه کوي.

کارل مارکس په کمیونسټ میني فیسټو کې لیکی چې په تاریخ کې څومره ټولنې هم تیرې شوې دي، تاریخ یی له طبقاتی مبارزو څخه ډک دي. لکه د اقا او غلام، پیوډال او بزګر، پانګوال او کارګر، لنډ دا چې جابر او مظلوم دواړه هر وخت د یو بل سره لاس او ګریوان وو. او په یو داسې جنګ کې به په دوام داره توګه را سره مصروف وو، چې کله به دغه پټ وو او کله به ښکاره. او د دغه جنګ پایله به دا رواتله چې یا به یې په ټولنه کې بشپړه بدلون رامنځته کیدل او یا به د دواړو ښکیل ډلو تباهی حتمي وه.

د پیوډالۍ له کنډوالو راوتلې عصري پانګواله ټولنه هم د طبقاتی دوښمنانو په ختمولو کې پاتې راغله. دغه فقط دومره وکولای شول، چې نوې طبقاتو ته یی زیږون ورکړ. د جبر نوي وسایل یی رامنځته کړه. د پخواني صورتونو په ځای د مبارزی نوي صورتونه پر ځای شول. زمونږ د دور یا عهد مانا د پانګوال د دور روښانه خصوصیات دا دی چې طبقاتي دوښمنان یی ډیر ساده کړه. دغه پوښتنه داسې مطرح کیدلای شي چې دوه سیالي کونکي ټولي یې رامنځته کړل.

د دوه لوړو طبقو وروسته، چې دواړه د یو بل سره لاس او ګریوان دي. پانګواله او پرولتاریه-

د مارکس د کمیونسټ میني فیسټو څخه اخستلی شوي لاندی ټکي څرګندوی چې مارکس د عصری ټولنې د هرې منځۍ طبقې په حیثیت سره د ښکاره تجزیې په اړه څه ډول وضاحت کړی وه.

نن چې د پانګوالي طبقې په مخ کې کوم طبقات راولاړ دی په هغه کې په ریښتنی ماناکې پرولتاریه یواځینی انقلابی طبقه ده. نوری طبقي د عصری صنعت په مقابل کې وولیږی او اخر ورکی به شي. پرولتاریه د دغه مخصوصا او نه ورکیدونکی تولید دي. لاندنۍ طبقه، منځني صنعت، ذکاندار، لاسي کارکونکي او بزګر.

دا ټول د پانګوالې طبقې پر ضد په دا خاطر جنګ تر سره کوي، چې دوی خپلو ځانونه د منځنې طبقې په څیر محفوظ کړي، لحاظه دوی انقلابی نه دی، خو څه چې یی درلوده د هغه خوښونکي دي. خو له دې هم ډیر بد،څکه چې دوی د تاریخ د پایې د سرچپه تاواولو کوښښ کوي. که دوی فرضا انقلابیان هم وی، نو فقط ځان په پرولتاریه کې د بدلیدو له ویرې دي. لحاظه دوی د حال نه، د راتلونکی ګټو دفاع کوي. دوی دلته خپل نظر پر شا غورځوي او د پرولتاریه نظر خپل کړي.

په ډیرو لیکونو کې چې د تاریخ په اړه دي، مارکس د مادي نظر له لارې د تاریخ لیکلو ډیر لوړې او ژورې بیلګی ورکړي دي. د هرې انفرادی طبقې او بعضې وخت د یو طبقې په داخل کې موجود ګروهونو د حیثیت په تجزیه کولو سره واضحه کړې ده، چې ولې او څنګه هره طبقاتي مبارزه یوه سیاسي مبارزه وي. پورتنۍ لیکنه یې یوه بیلګه ده، چې مارکس د تاریخي تکامل د پایلې ټاکل وروسته د یو طبقې په بله طبقه کې د بدلیدل دوران چې کوم لومړۍ مراحل راځي، لکه د ماضی څخه د راتلونکی په لوري سفر، او د پیچلیو ټولنو د ریښو د تړون تجزیه کوي. د مارکس اقتصادي نظریه د دغه نظریی ډیر پراخ، ژور او تفصیلی تایید او د دغه عملي کیدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه - د مطالعې په اړه د ټراټسکی څه نظر وه؟(۲۹مېی ۱۹۲۳)

ځواب-

ګرانو ملګريو!

تاسو ګله کړې وه، چې تاسو د خپلې خوښې ۱۰٪سلنه کتابونه هم نه دي لوستلي، او تاسو پوښتلي دی چې دغې لپاره يو مناسب مهال وېش څنګه جوړ کړای شي. دغه يو ډېره پيچلې پوښتنه ده ځکه چې د دغه پريکړه هر شخص د خپلو مخصوصواړتياو او جالبتيا ته په کتلو سره په خپله کوي. خو بيا هم دلته د دې خبرې يادونه اړينه ګڼم چې يو سړی څنګه د موجوده ادب په اړه با خبره پاتې کيدلی شي. که هغه ساينسي دی يا سياسي او يا بل څه- د نومورې کړه وړه يوازې د وخت په مناسب تجزيه باندی نشي کيدلی خو د هغه سړې په سابقه روزنه باندې هم. ترکومه چې ستاسو د پارټيوته(د ځوانانوګوند) په اړه حواله ده، نو زه يوازې دومره مشوره در کولای شم چې تاسو د ټندوالی څخه کار مه اخلې. او ځانونه ډېر مه خوروی. د يو موضوع په پرېښودلو بلط موضوع ته تيښته مه کوي. او بل يو کتاب تر هغه مه پيل کوي، چې تر څو مو لومړی کتاب خلاص کړای نه وي، تر هغه چې تر څو مو پر مفهموم او مانا بشپړ غور او فکر، او پکې مسلکی شوي نه وی. ماته په را زړه دی چې زه کله ځوان وم نو ما هم فکر کول چې ماسره پريمانه وخت نشته. تر دې چې زه په زندان کې وم، نو ما فکر کول چې زه کله ټوله ورځ مطالعه کوم، نو بيا هم دا زما لپاره کافي نه ده.

داقتصادي ځانګې په څير په نظرياتي ځانګه کې هم تر ټولو مشکل او وخت غوښتونکې مرحله د لومړی سرمايی راغونډول وي. يوازې د علم مخصوص عناصر(لکه د کار طريقه) باندی بشپړه لاس واکی وروسته دغه د خپلو فکري کړونو اړين جز ګرځولو وروسته نه تاسو د دغه ځانګی ادب باندی پوهيدلی شي. چې تاسو ترې خبر ياستی. بلکې د علم پرهغه ځانګو هم تاسو پوهيدلی شي. چې له دې توپير لري.ځکه چې په ورستی تجزيه کې د کار طريقه تل يو شان وي.

ښه خبره دا ده چې يو کتاب ولوستلی شي او بله ښه خبره دا ده چې په يو وخت کې پر يو وړې خبرې په بشپړه توګه برلاسي اوسېږی. يوازې هم دا لاره ده چې د پوهيدلو اعصابی استعدادنه په رښتيا هم په دغه فطری اوضاع کې وده وکړي. خو په يو بل پسی باور لاس ته راوړی او وده به وکړي. دغه لومړنی خبره په ذهن کې پر ځای کولو وروسته تاسو کولای شي، ځان ته په اسانی سره يو مهال وېش جوړ کړی. او بيا ديوې جالبتيا څخه بلې ته لاس رسی به تاسو ته يو جالب خوند درکړي.

پوښتنه – پرله پسی دوام داره انقلاب څه ته وايی؟

ځواب-

د نظريی دوام داره انقلاب عملي بنسټونه په دريو ټکو باندې ولاړ دي. د وروسته پاتی والی او معصرتوب پر نوم د ولاړې ټولنې واکمنان د خپل تاريخي او اقتصادي کمزوری له امله دغه واکمنان استعداد نلري. چې دغه ټولنې پر مختللې يا عصري کړي. په تاريخي توګه د پانګوال صنعتي انقلاب کومې غوښتنې چې بايد پانګوالې طبقې بشپړه کړای واي. په دغه کې د هر قوم او ملکي دولت جوړښت، د عصري صنعتي ټولنې د جوړښت لپاره د اړين بنسټيز پلانونو رامنځته کول(انفراسټرکچر) د پيوړاليزم ختمول او کرنيز انقلاب د پارليمانی جمهوريت رامنځته کول، او د مذهب له دولت جلا کول وي. پاکستان، افغانستان او د نورو نوآبادياتی هيوادونو واکمنان له خپلواکی وروسته په دغه کې، هيڅ يو کار بشپړه نه کړای شو. او مخ پر زياتيدونکې استعماري نظام کې هيڅ کله نشی کيدلای.

د دغه کارو د بشپړتيا په خاطر پکار وسايل لکه زورور صنعت، بانکونه او سرمايه بايد په ملکي کنټرول کې واخيستلی شي. هم دغسې د ملکي جمهوري انقلاب پوره کولو په خاطر سوسيالسټ ګامونو اخيستلو ته اړتيا وي. هم دغه علت دی چې د انقلاب کردار دوام داره يا پياوړی وي. په دغه اوضاع کې چې کومه طبقه د انقلاب مشري کوي دغه په تاريخي توګه د ټولنې عصري طبقه وي، مطلب صنعتي کارګره طبقه-

په خپله مشری کې دوی نور غم ځپلی او بزګران له ځان سره واخلي او د پانګوال نظام له منځه وړل به حتمي کوي او د دغه انقلابي سرکشی ترڅنګ د مسلح سوسيالسټ انقلاب پر را پورته کيدلو په يوه ټولنه کې سوسياليزم نه راځي. د سوسياليزم يواځنی حتمي هدف د طبقاتو څخه پاکه ټولنه ده.

يوه داسې ټولنه چې چيرته د استعمال شيان د اړتيا مطابق او د ټولنې لپاره وي. په يو هيواد کې او بيا په تيره يو وروسته پاتې هيواد کې موجود فرهنګ، صنعتی لوړتيا د هغه وړ نه وي چې د اشتراکي يا سوسياليزم بنسټيزه غوښتنې پر ځای کړي. هم دغه علت دی چې که سوسياليزم په يو هيواد کې راځی نو د سوسياليزم پر ځای کولو لپاره به لومړی په ټوله سيمه او بيا په نړيواله توګه د سوسيالسټ انقلابونو د عمل پيل کيدل حتمي شي.

پوښتنه - ايا د سوويت يونين (شوروی اتحاد) له ړنګيدو څخه د سوسياليزم ناکامي څرګنديږی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب-

د نن څخه ۸۸ کاله مخکې(د پخوانی روسي کیلنډر مطابق په ۲۶ اکتوبر او د معصر کیلنډر مطابق ۷ نومبر) چې کوم انقلاب رامنځته شوی وه، د هغه په واسطه په لومړۍ ځل کارګرواکثریت د لینن او ټراټسکی په مشرۍ مستقما په واکمنۍ باندی قبضه تر سره کړې وه. او د کارګرې طبقې ریاست ډېره یې کېښوده. ددې انقلاب په اماده کولو او رامنځته کولو کې د بالشویک(RSDLP) (B) ګوند اړین رول پلی کړی وه.

کارګرې طبقې د دروند اکثریت له لارې د ورکتیو جرګه ګیو له لارې په یو نظام کې منظم کیدلو وروسته په ټولنیز ډول دغه انقلاب ته زیږون ورکړی وه، او پر واک یی قبضه کړی وه. تقریبا د پنځوکالونه تر شپږ کالو پورې د دغه انقلاب بنسټ د دغه د بنسټ کېښودونکو په تګلارو مخې ته روان وه. خوولې د ۱۹۲۳-۲۴ وروسته د دغه انقلاب د زوال ورځی پیل شوې. د شوروي اتحاد د ماتیدولو وړاند وینا هم د ټولو څخه مخکې د دغه انقلاب مشرانو لینن او ټراټسکی کړې وه. خو نن د استعماري تبلیغاتو په ترڅ کې چې د کومو دوه حقایقو پټولو زیار کیږی هغه لاندې دي.

۱- پوښتنه دغه ده چې دغه هیواد روسیه د دغه انقلاب په واسطه د ۵۰ کالو څخه تر ۶۰ کالو کمه مودې پورې څرنګه د یو وروسته پاتې نوي آبادیاتي هیواد څخه د نړۍ دویم نمبر اقتصادي هیواد په توګه نړۍ ته مطرح شول.

۲- د سوویت یونین(شوروی اتحاد) له ماتیدو وروسته په روسیه او نورو سټالینستې هیوادونو کې بحران او د بشرې ټولنې چې کومه اوضاع ده، هغه له مخکې ښه ده که بده؟

په ۱۹۱۷ زیږدیزکال کې د زرشاهی له جبره چې په اکتوبر کې د انقلاب په زور بنسټیزه بدلون رامنځته شول، هغه دا چې منډیې اقتصاد په منصوبه بند(سوسیالسټ)کې بدل شو. مطلب د تولید دغه بیسټیزه بدلون چې په سوویت یونین (شوروی اتحاد)کې د پرمختګ کوم تندوالی یا پراخوالی رامنځته کړو، نو د دغه بیلګه د نړۍ په هیڅ ګوټ کې نه ښکاري.

تر۱۹۹۰ پورې شوروي اتحاد د سټیل په تولیداتو کې،  په ماشیني تولیداتو کې، ټریکټر جوړولو کې، سړکونو، سیمټو، ډېرو سکرو، ګاز، تیل، ریل، د بریښنا په شمول نورو ۳۰ دیرشو اهمو او بنسټیزو صنعتونو په برخه کې په نړۍ کې ډیر تولیدات وړاندې کول. د دویم نړیوال جنګ وروسته په ۲۵ کالو کې سوویت یونین(شوروی اتحاد)چې د اروپا په مقابل کې کوم پرمختګ کړی وه، هغه تر ۱۹۷۵ پورې د دوی په مقابل کې دوه برابره وو. په دغه دور کې د هر کس په امدن کې ۱۶۰ فیصده زیاتوالی وه شه. د ټولنیز مصرف په برخه کې ۴۰۰ سلنه زیاتوالی وه شه ، ۵۶ میلیونه کورونه جوړ کړای شول. لومړۍ او منځنۍ زده کړې پر ټولو وګړو لازمې وې، د پوهې کچه تر ۹۹سلنه پورې ورسیدله. په نړۍ کې تر ټولو زیات ډاکټران، انجنیران، تخنیک کاران، ساینس پوهان او مسلکي خلک په روس کې را پیدا شول.

په څو ځانګو کې مثلا په خلایی څیړنه کې روسیه د امریکا په څیر هیواد وروسته پریښودل، د کورونو  او ټرانسپورټ، کرایې، روس کې تر ټوله نړۍ کمې وې. په خوارکي توکو کې اسانتیا وه، چې د ټولو مصارفو تر څنګ پنځوس سلنه څخه زیات به د روسي کارګر په جیب کې پاتې کېده. پوهه،روزنه، درملنه او نورې ټولنیزې اسانتیاوې به وړیا وې. په یو څو کلونو کې کلنی پرمختګ او د تولید سلنه له ۲۸ نه ۳۰ سلنه پورې ورسېده. د هیڅ یوه هېواد پانګوال د دوی څخه مخته نشو تللی.

د روسیې تر ماتېدو پورې بې کاري یو جرم وو. د کار او بنسټیزه اسانتیاو ورکړه ددولت مسوولیت ؤ. دا پورتني معلومات، شمیر او تاریخي حقایق ټولې نړۍ د تاریخ په پاڼو کې لیدلي دي. دا هر څه د ذریع پیداوار د ملکیت د ریښو له بدلون، څمکي، لوړصنعتي اقتصاد او د تقسیم بنسټونو د ملي ګرځولو، ټرانسپورټ، اقتصادي تبادله او په خارجي تجارت باندې بشپړه دولتي واک له امله ممکن شول. بشري تاریخ دومره ټُند پرمختګ د تاریخ په هیڅ یو دور او نظام کې نه وه لیدلی.

نن د یوې بربنډې پراپګنډې په ترڅ کې ټول خلک له دې څخه د بې خبره ساتلو هڅې کیږی. خو بل لورې ته هغه خلک چې د پرمختګ فقط دغه یو اړخ څخه د روسي او چیني افسر شاهي پیروکاران وګرځیدل، هغوی دومره لوی پرمختګ تر څنګ په دغه ونه توانیدل چې د شوروی اتحاد ماتیدلو او د واکمن نظام د ناکامیو دلیل ووایی.

شوروي اتحاد کې چې کوم انقلاب راپورته شوی وه، د هغه زوال د ۱۹۲۴ وروسته پیل شو. د دغه بنسټونو د انقلاب ترڅنګ روس په ۱۹۱۷ کې په اقتصادي، صنعتي، ټولینیز او فرهنګی توکه وروسته پاتی هیواد وه. او ورسره د لومړۍ نړیوال جنګ (۱۹۱۴-۱۹۱۸) د روس په بد حالي کې لا زیاتوالی وکړ. د جنګ په جریان کې او له دې وروسته ۲۱ هیوادونو د انقلاب له ویرې پر روس برید وکړ.ولې چې په روسیه کې د بالشویک انقلاب وروسته استعماري ځواکونو یره درلوده چې چیرته د دوی په هیوادونو کې هم دا رنګه انقلاب رامنځته نشي. هم دا علت وه چې دوی د دغه انقلاب په پیل کې د دغه انقلاب د له منځه وړلو هوډ وکړ. خوولې د دغه انقلاب د مشرانو سره مفکوروي او ګوندي استعدادونه موجود وو، چې له امله یې دغه استعماري قوتونو ته ماتې ورکړه. د دغه لپاره دوی دوه طریقې خپلې کړې.

۱- تقریبا درنیمو لکو مات ګوډ پوځ ټراټسکي د انقلابي عمل له لارې  په ۱۸ میاشتو کې ۳ میلیونو سور پوځ ته ورسول. چې دغه پوځ په ډیرو جنګونو کې د استعماري ځواکونو او د دوی د ګوډګیانو پر ضدجګړه تر سره کړه، او بریاوې یې لاس ته راوړې، او تر څنګ یی د انقلاب په ساتلو کې لوړ ګامونه ترسره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دويمه لاره دا وه چې د نړيوال کارګرانو يو ځای کول وي. په دا خاطر چې په روسيه کې راولاړ انقلاب د يو هېواد يا قام په خاطر نه وه او د کارګرانو د يو نړيوال ګوند مشرۍ په تر څ کې ( د دويم نړيوال کميونسټ ګوند چپ لاسی ګوند حزب له امله ) د طبقاتی زيار له امله دغه انقلاب رامنځته شوی وه. هم دغه نړيوال کارګر ګوند له لارې لينن او ټراټسکي د ټولې نړۍ له کارګرو څخه خواست وکړ چې ددغې خپلې طبقې د بريا لپاره په نړيواله کچه مبارزه وکړي ددغه خواست په ځواب کې نه فقط په امريکا، بريتانيا، فرانسه او نورو استعماري هيوادونو کې کارګرې طبقې د لاريونونو په صورت کې د بريدګرو پوځيانو د تيلو لېږد بند کړ. بلکې ددغه بالشويک خوځښت له امله د ډېرو هېوادونو پوځيانو د خپلو مشرانو امر منلو او بريد کولو څخه انکار او بغاوتونه وکړل. ددې خبرې بنسټ په دا کې ؤ چې بالشويکانو په کومه نظريه انقلاب رامنځته کړی ؤ، هغه د کوم هېواد سوسياليزم نه ؤ، بلکې د نړيوال انقلاب د لړۍ يوه کړۍ وه. په جولای ۲۰۱۱ کې لينن د امريکا مزدورانو په نامه يو ليک ولېږداوډوی. ليکې: (( مونږ به تر هغه مهاله په بنده کلا کې يو، چې تر څو د نړيوال سوسيالسټ انقلاب قوتونه زمونږ مرستې ته نه وي راغلي.))

همدغه کال لينن په نومبر کې ليکي : (( د نړۍ تاريخ ددې خبرې شاهد دی چې مونږ د روسيې په انقلاب کې د هيڅ ډول تېروتنې څخه کار ندی اخېستی، ځکه چې دغه يوه اهمه اړتيا وه، بله کومه لاره پاتې نه وه. که په ټوله نړۍ کې سوسيالسټي انقلاب له بريا سره مخ نشي نو بريتانوي، امريکايی او فرانسوي استعمار به په روسيه کې د کارګرې طبقې انقلاب او خپلواکي له خاورو سره خاورې کړي. مونږ هر څه د نړيوال انقلاب لپاره په اوبو لاهو کړل. مونږ تر بشپړې بريا پورې د نورو هېوادونو د کارګرې طبقې په مرسته رسېدلی شو. ددغه پوځې او نړيوال کارګرې طبقې د مرستې او يووالي له امله په روس کې انقلاب خو راغی خو په يو څو پرمختلليو هېوادونو لکه جرمني، ايټاليا، فرانسه، هنګري او د بريتانيې په شمول نورو هېوادونو کې انقلاب پر مختګ ونکړ، نو همدا علت ؤ چې په روس کې انقلاب د يوازيتوب او بېلوالي ښکار شو. په جرمني کې هم دغه وخت کې درو انقلابونو سر راپورته کړ.

په دغه کې د نومبر ۱۹۱۸، جنوري ۱۹۱۹، مارچ ۱۹۲۱ او د اکتوبر ۱۹۲۳ انقلابي مبارزې او سرکښيانې شاملې دي. په ۱۹۲۲ کې لينن د دويمې نړيوالې مرکزي کومېټې غړيو ته مستقيما ويلي وو( برلن د جرمني زړه دی او د جرمني د اروپا زړه دی که په جرمني کې انقلاب نه کاميابېږي نو زمونږ د انقلاب تباهي حتمي ده. که د جرمني انقلاب لپاره مونږ ته د روسيې انقلاب د قربانولو اړتيا راپېښېږي. نو مونږ به يوه ثانيه هم ځنډ ونکړو، وروسته د انقلاب زوال دا وړاندوينه سل په سلو کې سمه ثابته کړه. بالشويکا انقلاب خو بچ پاتې شو خو د کورنيو جګړو استعماري بريدونو او په اروپا کې د انقلاب د ناکامېدو له امله په روسيه کې چې انقلاب يوازې پاتې شوی ؤ، د زوال پزيرۍ پر عمل باندې ژورې اغېزې وکړې. په وروسته پاتې روسيېه کې دغه افتونو د کمښت او قحط اوضاع رامنځته کړه، د بالشويک ګوند په سلګونو مشران د کارګر انقلاب دفاع کولو په صورت کې ووژل شول، چې ددغو خلکو د ځای نيولو په خاطر زيات شمېر مفادپرست او د واک تږيو په مختلفو چلونه په بالشويک ګوند کې ګډون پيل کړ.

کمښت او اړتياو چې کومه بدحالي منځته راوړله هغوی د انقلاب وروسته ټولنيزې ګډوډۍ ته لاره هواره کړه. ددغو شيانو د مخنيوي لپاره دولتي ګامونو ضابطې سختې کړې، ولې چې اړتياوې او کمښت په حتمي توګه دولتي عناصر پياوړي کوي. او افسرشاهانه (بيوروکريټيک)ډول حکومت رامنځته کوي. تر ۱۹۲۰ پورې اوضاع دا وه چې د لومړي نړيوال جنګ په مقابل کې د کارګرو شمېر تر۴۳ سلنې پورې پاتې شو. همدا ډول توليدات له انقلاب وروسته چې د مخه يې زياتېدل اوس په کمېدو شول. صنعتي توليدات اوس فقط ۱۸ سلنه پاتې شول، همدارنګه د انقلاب کوونکو کارګرانو زياتره برخه د انقلاب په ساتلو کې بوخته وه، بعضې بالشويکانو د انقلاب د ژغورلو په خاطر سخت ګامونه واخېستل، دداخلي ګډوډۍ او بهرنۍ بريدونو په ضد لينن او ټراټسکې، په ۱۹۲۰ کې وار کميونزم (جنګي کميونزم) تګلاره عملي کولو ته اړ اېستل شول . په دغو کړکيچنو حالاتو کې ددا ډول ګامونوسختې پايلې ودرلودې .

ټراټسکې د افسرشاهي نظام د زېږون په اړه يوه بېلګه وړاندې کوي او ليکې چې کله يو څيز کمښت پېښېږي نو ټول ددغو لاسته راوړلو په خاطر په ليکو کې ودرېږي چې څومره زياته بدحالي وي. په همدا خاطر ددوی د کنټرول په خاطر د يو عسکر اړتيا وي او که د غوښې د اخېستلو په خاطر دا کتارونه ولاړ وي نو ددې د کنټرول لپاره چې کوم عسکر ولاړ وي. هغه به تر ټولو مخکې خپله برخه جلا کوي. دغه عمل د افسرشاهۍ د پياوړتيا بنسټ ګرځي خو د افسرشاهۍ په زېږون کې د روسيې فرهنګ او ټولنيز وروسته پاتې والي ډېر اهم رول پلی کړی ؤ، پرمختللې هېوادونو کې د انقلاب نه کيدلو له امله نه فقط ږوسيه د صنعتي او اقتصادي يوازيتوب سره مخ شوله بلکې د ملکي او فرهنګي بېلوالي سره هم مخ شوله.

له دې امله د افسرشاهۍ زېږون رامنځته شوی ؤ.

لوړ مارکسسټي استاد فريډريک انګلز په ۱۹ مه پېړۍ کې ليکي، هره يوه ټولنه چې کله هُنر، ساينس اوحکومت د اقليت ملکيت وګرځوي نو هلته هغه اقليت دغه شان د خپلو غلطو موخو په خاطر خپلوي او د هر هغه واک څخه به سرغړونه کوي چې ددغه په لاس کې وي. د روسيې دغې افسرشاهي ته لينن په اشارې سره په خپل کتاب ( ښه لږ خو بيا هم ښه) Better fewer but better ليکې ( زمونږ دولتي جوړ ښت د چټلتيا تر حده پورې د غندنې وړ دی. مونږ به ددغو نيمګړتياو د لرې کولو لپاره کار وکړو، ددغو مريضيو جرړې له ماضي څخه راوځي. هغه تېر وخت چې مونږ د جرړو له خوا غوڅ خو کړ، ولې کنټرول مو نکړای شو.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا رنګه د افسرشاهی دا زوال په معروضي توګه روان وه، خو د ۱۹۲۳ نه وروسته دغه عمل ته داخلي او عضوي رنګ ور پورته کیدل پیل شول. په ۱۹۲۲ کې سټالن د ګوند جنرل سیکرټري وټاکلی شو(له د مخکې د جنرل سیکرټری دندې مطلب د ګوند مختلفې چارې یو ځای کول وی) کله چې بالشویک ګوند انقلاب رامنځته کړ، نو د دغه ګوند جنرل سیکرټري سوویډلوف(Sverdlov) وه. دا رنګه پر دغه پوسټ باندی د بیوروکریټ او جبر روش د ټولینیز قیادت پر اصول باندی نه وه. او هغه قیادت چې پر دولتي واکمنتیا یې درلوده او زیاتره فسادي قیادت یې د غلطې لارې راداخل شوی وه، د سټالن بیوروکریټ زوال ته یی شعوری بنه و بښله. بعضې هغه خلک چې له پیل څخه د بالشویک انقلاب دښمنان وه، د واک لاس ته راوړلو نه وروسته د سټالن د مشیرپه توګه یی ځانونه برابر کړه، چې وکولای شي د سټالن دا روان عمل لا جدي کړي. په دغه کې مارټی نوف(Marty Nov)، یاروسلاوسکی(Yaro Slavasky) او وایی شنسکی (Vyshinsky)ګډون درلوده. نوموړیو پوهانو چې په عارضي توګه د کړکیچ او مخصوص جنګ په اوضاع کې کوم ګامونه اخیستل وی، د دغه د مستقل کولو وروسته دوی دغه ته د افسرشاهي بنسټونه مساعد کړ. د وخت په تیریدو څرنګه چې دوی پر واک باندې لاس بري شول، هم  دا رنګه دوی د افسرشاهی زوال تنزل ته نظریاتي اساسات مساعد کړل.

دوی په ۱۹۲۴-۲۶ کې داسې نظریات راپیدا کړه چې دغه د مارکسیزم د روح او اساساتو پر ضد وو. په دغه کی لومړۍ نظریه د روس په سرحدونو کې د انقلاب را ایساریدل وه او دویم د انقلاب په نورو هیوادونو کې نه رامنځته کیدل وه. هغه نظریه چې په جنوری۱۹۲۴ کې د لینن د مړینې وروسته (په یوهیواد کې د سوسیالیزم نظریه وه)، چې وروسته د ملکي تنګ نظرۍ او د کارګرې طبقې پر نړیوال ګوند باندې د روسیې دولت مسلط کیدولو او په نړیواله توګه د کارګري طبقې د نظم او چوکاټ څخه د وېستلو لپاره پر لاره اچولی شوې نظریه وه. داولې؟ دا په دا خاطر چې د دغه نظریې تر تطبیق پورې واکمنی طبقې نشو کولای چې افسرشاهی خپل جبر او فساد په ازادۍ سره تر سره کړې وه.

د دغه نظریې سره د مارکسیزم پر طبقاتي نړیوالتوب په یو هیواد کې د سوسیالیزم له امله د ملکي تنګ نظرۍ او قوم پرستۍ شانتې احساسات او نظریات وتپلی شول. لینن او بالشویکیانو چې کله انقلاب رامنځته کړ نو دغه د یو قام یا هیواد څخه ډیر د یو طبقې انقلاب وه. چې دغه په خپله د نړیوال سوسیالسټ انقلاب د تسلسل او عمل یوه برخه کڼل کیده. مارکسیزم د قوم پرستۍ د نفې په صورت کې د بشریت خپلواکي د طبقاتي یوالي او مبارزی له لارې ارزیابي کوله. هم د دغه پر بنسټ لینن او بالشویکو د انقلاب په واسطه چې کوم دولت رامنځته کړی وه، د هغه نوم (یو-ایس- ایس- ار) سوویت سوشلسټ د ریپبلکنو اتحاد وه. انقلاب کونکي مشرانو دا تصور هم نه وه کړی، چې وروسته راتلونکی سټالن او د نوموړي وروسته راتلونکی بیوروکریټ به دغه ابتدایی سوشلسټ ټولنه په یو هیواد کې شکېل کړي، او دغه ته به یو بېل او مستقل مقام ورکړي. په لنډو ټکو کې د سټالینیزم له مارکسیزم سره واحد ټکر دا وه، چې د نوموړیو پیروانو سوسیالیزم په یو هیواد کې مقید کړ. د سویت یونین د دفاع لپاره بالشویکیانو ډیرې قربانۍ ورکړې وې، او دوی له کومې تګلارې (نړیوال طبقاتي مبارزې په صورت کې) چې سویت یونین ژغورولی وه.

د هغه مطلب د روس انقلاب په یو هیواد کې مقید کول نه وه،ولې چې په هم د کې یی د دغه انقلاب ژوند اود بقا راز پټ وه. مارچ ۱۹۱۸ کې لینن لیکلي وو، نړیوال استعمار د یو پر مختللی ټولینیز انقلاب تر څنګ څنګ سفر نشي کولای. زمونږ پاتې والی مونږ پر مخ ټیله کړو، که چېرته د نورو هیوادونو د انقلابي سرکښو زیار اېستونکو ډلو پریمانه حمایت مو ترلاسه نکړ په حتمي توګه به تري تم  شو.

(د لینن لیکونه ټوک XV مخ ۱۸۷)

په مارچ ۱۹۱۹ کې لېنن دا سوچ بیا تکرار کړ، مونږ فقط د یو دولت پر ځای د ډیرو دولتونو په یو مشترکه غونډال کې ژوند کوو،  د سویت ریپبلیکن د وجود شتون له نورو استعماري ځواکونو سره پاتې کیدلو په اړه تصور هم نکړی شو، په ورستنۍ پړاو کې به اخر یو پر بل بری مومي.

(د لینن لیکونه ټوک XVI مخ ۱۴۹)

په ۵ جولایي ۱۹۲۱ کې لېنن د ګوندي کانګرې پر ورځ ډیر مستقما خبرې وکړې،  مونږ لپاره دا روښانه دی چې د نړیوال انقلاب بریا پرته د کارګرې طبقې  له مرستې ناممکنه ده. انقلاب په نورو وروسته پاتې هیوادونو کې یا لږډیر پر مختللي هیوادونو کې باید په جدي توګه رامنځته شي که نه، نو مونږ به ورک شو. د دغه ډول نظر او فکر له امله مونږ په هره توګه د سویت یونین د ژوندي ساتلو هر قیمت ورکولو ته غاړه کیښودلو زیار ویستلای دی،څکه چی مونږ پوهیدلو چې مونږ یوازې د خپل ځان لپاره کار نه کوو، مونږ د یو نړیوال انقلاب لپاره کار کوو.

(د لینن لیکونه ټوک XVIII مخ۳۲۱ )

که د لینن د دغه نظریاتو پرتلنه د سټالینسټو د افسرشاهي د برنامې، نظریاتو او د کار له پیمانې سره وکړو، نو معلومه به شي چی دوی د لینن د هر ډول ملاتړ، شخصیت پالنی او قصیدی درلودو تر څنګ د لینن د نظریاتو سره سرچپه روېش کول. په یو هیواد کې د سوسیالیزم راوړلو له امله، دوی د مارکسیزم له ډیرو تګلارو منحرف کیدو ته اړ شول. د بیلګې په توګه د دوی دا تګلارې  د استعمار او سوسیالسټ اقتصاد تر منځ یو ځای اوسیدلو زمینه رامنځته کړه. په ملکي بنسټونو ولاړ سټالینسټی افسرشاهی د استعماري ځواکونو سره د ( تل پاتې سولې په خاطر دواړوځواکونو د یو ځای اوسیدلو لپاره)هم دغه تګلارې ته مستقله بڼه ورکړه، او د استعمار سره یی راکړه ورکړه پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دغه بنسټونو چې چېرته استعمار په روسيه کې اقتصادي بدلون پر شاتګ کې پاتې راغلي وه، خو بل لوري ته له لويديځ څخه افسرشاهی په ډيرو کمو امکاناتو په پرمختللي او لويدځ هيوادونو کې د مارکسيزم له ودې څخه لاس پر سر شو. هم دا شان تدريجي انقلاب له يو هيواد څخه بل هيواد کې بل څه نه وه،خوولې په يوهيواد کې د سوسياليزم دتسلسل يوه کړې وه. د استعماري ځواکونو سره د خبرو اترو او د راکړې ورکړې په ترڅ کې چې سټالينستانو له کومو سستوالي څخه کار واخيستل، او بيا په تيره په نوآبادياتی هيوادونو کې انقلابونه تر ملکي جمهوري انقلاب يا خلکي جمهوري انقلاب پورې ساتل هيڅ مانا نه درلوده. خو دلته د استعمار استحصال قايم ساتل وي. هم د دغه تګلارې په پايله کې په چين(۱۹۲۵-۲۷)، چيلی، هندوستان او په نورو ډيرو هيوادونو کې انقلابونه د ماتی سره مخ شول.

په داخلي محاذ کې لينن د يو بشپړه ټولنيز سوسيالستي انقلاب لپاره (چې د سوسياليزم په صورت کې نړيوال انقلاب ته لاره هواره کړه) لاندنۍ ښکاره چوکاټونه ټاکلی وو.

د عبوری دولت هر کارمند د خلکو له بنسټيزو جرګو له لوري ټاکل کيدل. د دغه جرګو په مخ کې به يې پوښتنو ته ځواب وايه، او جرګو دا حق درلوده چې يو کارمند بيرته را وغواړي. هر کارمند بايد په تدريجی ډول بدلون وومومي، چې هدف يی د کارګرې طبقې په واک کې شتون دی.(د لېنن په ټکو کې هر اشپز کولای شي صدراعظم شي او بايد هر صدراعظم وکولای شي چې اشپزي هم وکړي)

بايد جلا پوځ يا دولت وجود ونلري،ولې چې د انقلاب دساتلولپاره به کارګره طبقه رول پلې کوي. د دفاع زياتره کار به د سويتونو پوځيان تر سره کوي.

د هيڅ يو دولتي کارمند معاش به د يو عادی کارمند څخه زيات نه وي.

دغه بنسټونه د انقلاب د پيل کيدو څخه ونيسه تر ناوړه کورنيوجګړو او نامساعدو حالاتو پوري قايم وو. د بشري ژوند په تاريخ کې له دې څخه بل کوم زيات جمهوری جوړښت او طريقه تر سترګو نه شوه. د نن استعماري پروپاګنډو په صورت کې چې د لېنن او بالشويک نظام له کوم ناوړه استبداد سره پرتله کيږي، د دې يوازې تاريخ نفې کوي، بلکه د نن پانګوال نظام جعلي او جوړه شوې ځيره په ټوله نړۍ کې بربنډه وي.

خو د سټالينزم له لارې د انقلاب د تنزل عمل د کارګرې طبقې دغه ډول جمهوري نظام هم تر پښو لاندې کړ. د دغه جمهوري نظام له منځه تلل هم د روس د ماتيدودو عمده علت وه. د ټراټسکي له خولې د يو منصوبه بند اقتصاد (سوسيالستې اقتصاد) د ګُند پرمختګ او په تکاملي عمل کې د کارګرې طبقې بشپړه جمهوري واک او انتظام دومره اړين وي لکه بشری ژوند ته آکسجين اړين دی. د روس انقلاب په يو ورځ يا کال کې تر پښو نه دی لاندی شوی. بلکې دغه د ۱۹۲۳ څخه پيل کيږی او ۱۹۳۸ کې پاي ته راسيږی. او دغه تنزل پر ضد تر ټولو لومړۍ چيغه لينن راپورته کړې وه. هم داسی د لينن له مرګ وروسته دغه مبارزه ټراټسکی روانه وساتله.

خو بشري ژوند د نا شمېره پېښو داستان دی. اوس دلته دوه پوښتنې راپورته کيږی. لومړۍ دا چې لينن، ټراټسکی او بالشويکيانو د خلکو خوا خوږی ولې لاس ته نه راوړه، په داسی صورت کې چې دوی د انقلاب د زوال پر ضد مبارزه کوله؟ دويم دا چې که ټراټسکې د سټالن پر ځای د سويت يونين پر واک باندې واکمن شوی وای، نو ايا بيا هم د انقلاب زوال حتمي وه يا نه؟

د ۱۹۱۷ بالشويک انقلاب لاس ته راوړنې د روس خلکو ته د ۱۹۲۳ وروسته پر لاس ورتلل پيل شول، د بيلګې په توګه د ۱۹۱۳ د ټولنيز او صنعتي پرمختګ په ۱۹۲۳ کې لاس ته راوړنې يی پيل کړې. خو د ۱۹۱۷ د انقلاب وروسته د نامساعدې اوضاعی له امله په روسيه کې عامه ژوند تر سخت تاثير لاندې راغی. خو اقتصاد هغه وخت روښد پيل کړ چې کله سياسي تنزل پيل شول، او افسر شاهی رامنځته شوی وه، او تر څنګ يی افسر شاهی د کارګرې طبقې د جمهوريت پر ريبولو پيل وکړ. هم دا وخت وه، چې د روس د خلکو د ژوند معيار د يو سياسي انقلاب په ترڅ کې په ګُندی سره پر مخ روان شو. د جنګونو، انقلابونو او د انقلابونو له طوپانونو او انتشار څخه راوتلی د روسيې لويه کارګره طبقه د ستړتيا ښکار شوې وه.

د ژوند معيار د ښه کيدلو له امله دوی له يوې اوږدې مودې پس څه خوند ليدل وه. هم داسې دوی د يو نوي جنګ کولو حوصله نه درلوده. هم دا علت وه چې دوی د ټراټسکې يا چپ لاسي ځواکونو ملاتړ ونکړ، او دا هغه قوتونه وو چې د سټالنسټ افسرشاهی پرضد يی يو نوي سياسي او ټولنيز جګړې ته ملا تړلې وه. لويه بدبختی دا وه، چې د اکتوبر انقلاب د روس د خلکو ژوند په تندی سره د ښوالی پر لوری روان کړی وه، خوهم دغه انقلاب د ښه ژوند له امله د لېنن او د مشر او تخليق کار ټراټسکی خلکي مرسته يا خواخوږي هم را ښکته کړې وه.

بل لوري ته که دا خبره وشي چې که ټراټسکي د سټالن پر ځای واک ته راسيدلی وای، نو انقلاب به ژغورول شوی وای. په تاريخ کې د فردي رول څخه انکار نشي کيدای. دغه سمه ده چې که لېنن او ټراټسکې نه وای نو انقلاب به نه کيده. خو سټالن د دغه تنزل عيني عمل ته شُعوري او داخلي شکل ورکړی دی. مونږ وييلی شو چې دا هر څه د ټراټسکې په دورکې کيدل ناشوني وه. خو بيا هم په ورستنۍ تجزيه کې عيني اوضاع ورستنۍ اغيزه کوي. هم دا علت دی چې د تاريخ په دغه عواملو کې څه حتمي نظرنشو ورکولی،ولې چې د انقلاب د تنزل د يو څخه ډير عوامل درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه زوال پزیرۍ لپاره چې چېرته سټالنسټ افسرشاهي په شعوري یا لاشعوري توګه بې شمېره تیروتنې او جرایم وکړه،خو بل لوري ته یې د لیننسټ ملګرو لپاره بې شمیره تګلارې پر لاره واچولې، لکه په (چین، فرانس، جرمنی، برتیانیا کې)

په دغه جنګ کې د ۱۳ لکو څخه زیاتو لیننسټو او د انقلاب د سیاسي زوال پزیري پرضد مبارزه کونکو او د دوی د کورنیوخلکو وژنه تر سره شوه. د بالشویک ګوند چې د ۱۹۱۷ انقلاب یې رامنځته کړی وه، له مرکزي کومېټې څخه یې تر۱۹۳۸ پورې په ۲۴ خلکو کې ۲۳ غړی په مرګ ورسول، یا د کورنیو جګړو پر محال شهید شول، یا څه د زندانونو او سایبیریا په کیمپونو کې زنداني او یا دوی له وطن څخه وشړل شول. په روسیه کې یوازې یو سړی پاتې شو او هغه سټالېن په خپله وه.

خو د سټالینزم او افسرشاهي واکمنۍ ته د ۵ څخه تر۷ لسیزو پورې  ژوند په برخه شول چې عمده علت یې د ۱۹۱۷ اقتصادي بدلونونه وو. په بنسټیزه توګه سټالینزم د اکتوبر انقلاب پرضد یو بد سیاسی شا ته تنبونکی غچ وه.

خو اقتصادي بنسټونه یې هم هغه سوشلستې وو، کوم چې د پانګوال نظام، ځمکولي او استعماري تسلط د ختموالو لپاره رامنځته شوي وو. دغه سوشلستې نظام په ۶۵ کلنه موده کې خپله بریا د پانګوال نظام په مقابل کې په ډېرو برخو کې وښودله، لکه د سټیل، تیل، سیمنټ، ودانیو، ټریکټرو، خلایی ټیکنالوژس او په ډیرو نورو ټولنیزو معاملو کې وده وکړه.

هم دا علت وه، چې سټالینسټ افسر شاهي د غه پرمختګ له امله تر نسلونو نسلونو پورې واکمني تر سره کړه. خو سټالینسټانو چې څرنګه د مارکسیزم او لینینزم د نظریاتو ملا ماته کړه، له دې ښه ښکاریدل چې دوی زیات پر دې بسایا ونکړي. ځکه چې پر دې بنسټونه د سټالینزم تګ د ډیر وخت لپاره ممکن نه وه.

څرنګه چې شوسیالیسټي صنعت او تیکنیکي پرمختګ وده وکړه، هم دا رنګه د صنعت پراخولی حتمي کیده. خو د دې ودې له لاسه د افسرشاهي په حجم کې هم زیاتوالی رامنځته کیدل. د کارګر جمهوریت او کنټرول د نه شتون له امله د افسرشاهي امریت د روسیه پر اقتصاد باندې د یوپېټې کار ورکړ. د ۱۹۷۰ په لسیزه کې روسیه د ۱۰ لکو څخه زیاتو شیانو پر جوړولو بوخت وه.  بل لوري ته د روسیې ۲۸۰ ملیونه نفوس پر دغه اقتصاد باندې تکیه کوله. او یوازې په مسکو کې ۵۰ وزارتونو کار کاوه، چې له امله یې اداري ګډوډۍ او د شیانو د زیات تولید بد کیفیت لامل کیدل. هم داسې د منډیۍ او ګټې له امله حرص هم پر زیاتیدو شو، خو د انتظام نه درلوده له امله به د تولیداتو لویه برخه د زیان کندې ته  لوېده. د دې تر څنګ اداري فساد او افسرشاهي تر خپل انتها ورسېده.

تاریخ د دې شاهد دی چې د هر جبر او امریت په دور کې د اداري فساد لوړوالی تر خپل ورستۍ حده پورې رسیږي. دا رنګه د اداري فساد ، ناسم منجمنټ، د پیداوار زیان او د افسرشاهي خپل پیټې له امله پر منصوبه بند معشیت باندې رامنځته شوی اقتصاد د ساه بندی ښکار شو. د ۱۹۷۰ تر اخره پورې افسر شاهي تر ۲۵ ملیونو خلکو پورې راورسیدله، د کارګر جمهوریت د نه شتون د یو سوسیالسټ اقتصاد په مخکې خنډ ښکاریدل، خو دغه د افسر شاهۍ د داخلي تګلارو تر څنګ د باندنیو تګلارو هم یو علت وه.

د امریکایي استعمار او روسیې افسرشاهي د واکمنو طبقو تر منځ د تضاداتو او سوړ جنګ عمده علت تضادتي اقتصادي بنسټونه وو. خو په یو هیواد کې سوسیالیزم نظریې تر څنګ، په استعماري هیوادونو کې سست انقلابي عمل او د استعمار سره راکړه ورکړه، او بل لوري ته د خارجي تیري د مخنیوي لپاره پر اسلحو دروند مصارف وو. د ټولې داخلي امدن او تولید ۶۰ سلنه برخه په مستقیم او غیرمستقیم توګه پر دغه شعبو مصرفیدله.

بل اړخ ته ( تل پاتې سولې په خاطر دواړوځواکونو د یو ځای اوسیدلو لپاره) تګلارې له امله تر ۱۹۳۰ لسیزې او د استعماري جنګونو وروسته کارګر انقلابونه د سټالینسټ او سوشل ډیموکریټک روایتي مشرانو د غلطو تګلارو له امله ناکامه شول. د پانګوالې طبقې د بیا ژوندی کیدلو عامل وګرځیدل.

د دویم نړیوال جنګ وروسته د ختیځې او لویدیځې اروپا پر سر په ۱۹۴۳ کې په یالټا کې چې کوم تړون د سټالن، چرچل او روز ویلټ ترمنځ وشول، هدف یې د فرانسه، اطالیه او یونان کې د ریښتنی انقلابونومخنیوی وه، چې نمایندګي یې د مسکو د سټالینسټانو له لوري همایه کیدونکي ګوندونو کوله. د دغه تګلارو له امله استعماریت ته د یو نوي دور(لوی تاریخي وخت ۱۹۴۸-۷۳) عروج چانس مساعد کړی شو.

چې له دې څخه په استفاده بیا په تېره امریکایي استعمار خپل رول په نړیوال اقتصادي او سیاسي بازارکې مطرح کړ. د دې نوي ځواک په رامنځته کیدو سره روسیه هم تر فشار لاندې راغله. تش په یو هیواد کې د سوسیالیزم خوارې تګلارې د سټالینزم له لورې د روسیې اقتصاد په دریو لسیزو کې محدود کړ او په نړیواله منډیۍ کې شراکت ونکړ. یوازې په ۱۹۵۳ کې د سټالن د مرګ وروسته د داخلي اقتصادي فشار له امله مداخلت وکړی شو او هغه هم په ډیره کمه سویه. او بل لوري ته د استعماري ځواکونو له لوري پر روسیې فشار په زتاتیدو شو، دا په داسې حالت کې چې استعماري هیوادونه په خپله د انقلابي خوځښتونو ډېره کیښودلو له امله په دوام داره توګه تر فشار لاندې وو، او دغه ښکاره اوضاع د سټالینسټو مشرانو مغزو ته نه لوېده. ټراټسکي د دغه ډول سټالینستې پوهانو په اړه په ۱۹۲۹ کې لیکلي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي(مشرانو) په دې ځان نه پوهاوه، چې يو فورډ ټريکټر هم دومره خطرناک دی چې څومره يو کروساټ (Crevesot) توپ وي. په دې کې يواځينی توپير دا دی، چې توپ کله کله استعمالېږي، خو ټريکټر په دوام داره توګه فشار زياتوي، او ټريکټر په دا هم پوهيږي چې د ورستنۍ ګزار لپاره يی توپ تر شا وي.(ټراټسکی ۱۹۲۹)

لينن هم له دې خطر له وړاندی خبر وو، نومونږ ته ويل، تر څو چې زمونږ سويت ريپبلک جلا ژوند کوي، په داسي حالت کې چې چارچپيره پانګوال نظام ګير کړې يو، دا به تر هغه يو احمقانه خوب او تصَوراتي يوټوپيا به وي، چې کله مونږ دا فکر کول پيل کړو چې مونږ په اقتصادي توګه خپلواکه شولو او مونږ ته را پيښ خطرونه له منځه ولاړ. پانګوال نظام ته که په نړيوال کچ وکتلی شي، نو دغه نه يواځې په نظامي برخه کې زمونږ څخه مخکې دی بلکې په اقتصادي برخه کې هم له سويت څخه پياوړی دی. مونږ بايد دغه بنسټيزې خبرې ته ځير شو او مخ ته لاړ شو، او هيڅ کله يی هير نه کړو.(لينن ټوکXVII مخ ۱۰۲ او ۴۰۹)

روسيه چې يو غريب هيواد دی، دامارت او زيات توليد ډګر په هغه وخت کې جوړېدای شي، چې کله مونږ له بدګمانۍ او مصنوعي شعار څخه ډاډه شو، په روڼ تندي، کلک هوډ او پوره تيارۍ سره دا وايو چې مونږ هلته خپلواکه کيدای شو چې کله نړيوال سوسيالسټ انقلاب رامنځته کړو، چې مونږ پرې روان شوي يو. (لينن ليکونه ټوک XVمخ ۱۶۵)

د لينن پر ضد سوچ درولودونکي د سټالينسټانو افسرشاهی نه يواځې د استعمار پر ضد خوځښتنو ته زيان ورسول، بلکې هغه هيوادنه چې سوسيالسټي خوځښتنو پکې سر راپورته کول، ډير سخت يی د زيان سره مخ کړه. چين، کيوبا، ويتنام، کمبوډيا، لاوس، موزمبيق، انګولا او نورو هيوادونو کې چې کوم دولتی بغاوتونه او ګوريلا جنګونه د پانګوال او ځمکوالي نظام پر ضد رامنځته شوي وو، د هغه ترشا هم د نړيوال سوسيالسټ سياست مسکو ماډل وه. خو په دا وخت کې د لينن د مسکو ماډل پر ځای د سټالن، خروچيف، برژنيف او ندروپوف مسکو ماډل وه. له دې څخه دا معلوميږي چې دوی هم هغه نظريات او تګلاره درلوده کومه چې په مسکو کې واکمن ځواک سټالنسټ افسرشاهی درلوده. دا رنګه چين، سوويت يونين، کيوبا، ويتنام او نور سوسيالسټي دولتونه چی کيدلی شول چې د دوی په يو ځای کيدلو سره يو لوی سوسيالسټي کنفيډريشن رامنځته شوی وای، خوولې په يو هيواد کې د سوسيالسټ انقلاب له نظريی له امله په دولته کچه د انقلاب رامنځته کيدلو دود کيښودلی شو. کامريډ په خپل منځ کې د اسلحې، بارودو او د ميزايلو په ژبه راسره خبرې کولې. چينايانو، روسيانو او نورو سوشلسټي افسرشاهانو د خپلو مفاداتو په رڼا کې تګلارې ټاکلې. چې له دې امله د سوسيالسټ هيوادونو تر منځ تضاداتو او شخړو به سر را پورته کاوه. دغه د سټالينزم د ملکي سوسياليزم غلطو تګلارو پايله وه.

خو د دې تر څنګ د افسرشاهي کورني فساد، د اروپا څخه په تخنيک کې پاتی والی، د کارګر جمهوريت نه شتون او د افسرشاهي جبر سوسيالسټ اقتصاد په ګونډو کړ. د۱۹۵۰ په لسيزه کې کلنۍ ملکي توليد له ۱۲ سلنه څخه ۱۵ سلنه زياتوالي سره روان وه، خود ۱۹۶۰ په لسيزه کې دا توليد کم شو او د ۱۰ سلنې او ۱۲ سلنې تر منځ پاتې شو. هم داسې ۱۹۷۰ کې ۶ څخه تر ۸ سلنه پاتې شو، آن تر دې چې په ۱۹۸۰ کې د ګورباچوف د اقتصاد مشيرابيل ابی بګيان له خولې د دې ۰ (صِفر) سلنه څخه هم لاندی راغی. دغه اقتصادي بحران د افسرشاهي سياسي ډاډ ته ډير سخت زيان ورسول او د ورخطايي ښکار شول. ګورباچوف چې د افسرشاهي چالاک او ذهين نماينده وو، په سټالنيزم کې د اصلاحاتو کوښښ وکړ. خو د امرانه افسرشاهی جبر لاندې ځپلی ټولينيز اقتصاد او ملکي تضاداتو او د پرسټريکا او ګلاسنااسټ د تګلارو له امله هر څه وسوځيدل. د سټالينيزم بحران دومره ناولی شوی وه چې اصلاحات پکې ممکن نه وو. کله چې ګورباچوف د خپلې ماتې څخه خبر شو نو د استعمار غيږې ته يی منډه کړه. چې د دې پر ضد د ګيناژنايف په مشرۍ کې د پخواني سټالينسټانو سخت دريزه او کمزورو پلويانو د بغاوت کوښښ وکړ، چې وروسته د استعمار په غيږ کې ناست بورس يلسن دا خوځښت وځپل.

خو د پانګوال نظام په ملاتړ په روس کې د پانګوال نظام بيا راژوند کيدل تر هغه وخت ممکن نه وه. د ۱۵ کالو په موده کې د پانګوال مفاد کړۍ و نشو کولای، چې د روس اقتصاد شخصي پانګوالو ته منتقل کړي. د هغه وخت زياتره برخه د روس د اقتصاد اوس هم په دولتي کنټرول کې ده. چې د دغه د شخصی کولو خوب له خاورو سره خاورې شو. چې له امله يی يو لوري ته سټالينزم مات شو او بل لوري ته يی پانګوال نظام له ګډوډی سره مخ شول، او ويې نه کولای شول چې هلته پيښې ټينګې کړي.

خو په پخوانيو روسيي سوويتونو کې بشری ژوند د وحشت او بربريت پر لوری روان ښکاري، د ښه والی په ځای تباهي او ورانکاري تر سترګو کيږي. تر ۱۹۹۷ پورې د روسيې د بې کارو نفوس ۵۰ مليونو ته ورسيدل، قيمتونو له ۷۰۰ څخه تر ۳۶۰۰ پورې لوړ شول. د ځمکو د کرايو هم دغه حال وه. په مسکو کې جرايم څو برابره زيات شول. د روبل قيمت په ۱۹۹۲ د يو ډالر په مقابل کې دوه روبل وه. په ۱۹۹۷ کې د ډالر په مقابل کې په زرګونو روبلو هم ارزښت نه درلوده. هم دغه اقتصادي ضربی روسيي کارګره طبقه له سختو غمونو او اضطراب سره مل کړه. يو لوري ته خو دوی د سوسياليزم او کميونزم په نوم د ۶۰ کالو لپاره د سټالنيزم ډرامه تحمل کړه. چې له دوی څخه د خلکو سخت بد راغلل. خو د پانګوال نظام بيا رامنځته کولو عمل دوی يوې لوې کندې ته واچول. هم د دې له امله په ړوسيه کې ګډوډې، ټولنيزاضطراب او مايوسي ترخپل انتها ورسيدله. دغه اضطراب نه يواځې د روسيې په لاندنۍ طبقه کې د بحران باعث کيږی، بلکې د دولت او افسرشاهي د مختلفو ډړو تر منځ د تضاد او ټکر لامل هم ګرځي. هم دغه تضاد د پوځ تر منځ هم تر سترګو کيدل.

د سوويت يونين ماتېدل د مارکسسټانو لپاره څه نوي خبره نه ده، بلکې دا خبره زمونږ مشرانو له مخې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټراټسکي په ۱۹۲۰ کې لیکلی وو، د یو سم قیادت په نشتون کې د پرولتاریه امریت(کارګره ډیموکراسي) به له کمزورۍ سره مخ شي او له غورځیدو سره به یی پر نړیوال سوسیالسټي انقلاب درنده اغیزه وشي، او بیا به له دې بُحران څخه راوتل ډیر وخت واخلي. مارکس په خپل کتاب (سرمایه) کې واضح کړی وو، چې ذرایع تولید په یو اقتصادي او ملکي چوکاټ کی زیږون کوي، نو که د دغه پر وړاندی ملکي اټکلونه یا د بل یو تنګ نظره نظام دیوالونه خنډ اچوي، نو بیا دغه ذرایع تولید په ټولنه کې تنګوالی او ګډوډي رامنځته کوي، چې له امله یی ټولنه او دا نظام د تاریخي استبداد ښکار شي. او ډوبیدل یی اړین شي. په سوویت یونین کې هم دا څه وشول، هم دا خبره ده چې د سوویت یونین ماتیدل د مارکسیزم نفې نشي کولای، بلکې په یو منفی انداز کې دغه ساینسي ریښتنوالي ثابتوي. پر دغه بنسټ دا خبره په ساینسي دلیل سره ویلی شو، چې نن هم د اکتوبر د مور د ژوغورنې په خاطر یو نوي او عصري سوسیالسټ انقلاب پکار دي----------------.پای

Translated by Wali Khan

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**